شعري ټولګه



# زه به نه لیونی کیږم!

**بخت زاده دانش**

چاپ هڅه او زیار

گلستان تمیم

## دالـــی

## پښتون ولس ته!

# دعـــاء

رحمت دې شم ورېږم دې باران دې شمه خــــدایه
قربان دې شمه خدایه
بس دومره درنه غواړم چې انسان دې شمه خـدایه
قربان دې شمه خـــدایه
زه نه ومه دنیا کښې لویه خدایه تا پیداکـــــــــړم
بچی دې د حوا کـــــړم
د واړه خنداگانو نه دې وړاندې په ژړا کـــــــــړم
تا پوهه په دنیا کـــــړم
د جهل په تیارو کې ځراغـان دې شمه خـــــــدایه
قربان دې شمه خــــدایه
قربان دې شمه خدایه چې پیدا دې مسلمان کړم
ښائسته دې په ایمان کړم
وینا د پیغبمر دې زه په سمه لار روان کــــــــړم
قاري دې د قران کــــــړم
لوگی د محمد اخر زمان دې شمه خـــــــــدایه
قربان دې شمه خــــدایه

قربان دې شمه خدایه چې دې ژبه راله راکړه
او خنګه دې ګویا کړه
مریم دې معجزه کړه خوږه مور دې د عیسی کړه
پوښتنه به موسی کړه
چې راز د زمانې یم نو بیان دې شمه خدایه
قربان دې شمه خدایه
په مینه دې مئین کړمه او یار دې راله راکړو
دلدار دې راله راکړو
چې مور دې راله راکړه خدایه پلار دې راله راکړو
اختیار دې راله راکړو
د مور او پلار د مهو پوره توان دې شمه خدایه
قربان دې شمه خدایه
قربان دې شمه خدایه بارانونه راوربږي
رنګونه را وربږي
د ذهن نه مې ژبې ته لفظونه را وربږي
شعرونه را وربږي
دانش یمه د خپل قام ترجمان دې شمه خدایه
قربان دې شمه خدایه

# غــزل

په ما مئینـــــه ښاپیــــرۍ لـه خیره
اوس بــه ډېـره ژر شي لیـونۍ لــه خیره
زه بــه شـعرونه وایـم تــه واه واه کـوه
نور به په منځ کښې مو څـه نه یي له خیره
نــه جي روپـۍ خـو پکښـې مـه راچـوه
کچکـول سـاتمه د روپـۍ لــه خیره
پـه هاغـه تـور سـړي کښـې فـرق راغـی
اوس بــه لاسـونه مـو ښـکُلئ لــه خیره
اوس د خـبرو نــه شـعرونه جـوړوم
قربـان قربـان د ملنگـۍ لــه خیره
مــا اوریـدلي دي سـړی رضـا شــو
خـبره جـوړه شـوه فلانکـۍ لــه خیره

بیـا مــازیگر شـولو رنگـین **دانشــه!**
جانـان راوخـوت پــه بلـۍ لــه خیره

## غـزل

په کتابونو کښــې خو نور نـور ثـه دي
په تفسيرونو کښې خـو نـور نـور ثـه دي

پــه آيتونــو بانــدې اوس پوهــه شــوم
پـه آيتونـو کښـې خـو نـور نـور ثـه دي

تــا خــو ويــل لږمانــان دي پــه کښــې
په دې قبرونو کښې خو نـور نـور ثـه دي

پــه ښائســتونو کښــې اورونــه نــه نشــته
په ښائستونو کښې خـو نـور نـور ثـه دي

دا جـوړې جـوړ دي د بـلال لـه رنگـه
په دې خالونو کښې خو نـور نـور ثـه دي

د دې ســـوالونو ځوابونــــه نــــه وي
په دې سوالونو کښې خو نور نور ثـه دي

**دانشــــه** تشــې زلفــې نــه يــادوې
ستا په شعرونو کښې خو نور نور ثـه دي

# غــزل

ملنګه په کچکول کښې دې روپۍ دي او که بل څه
پـه غـاړه دې جـامې د ملنګــۍ دي او کـه بــل څــه

ته راوړه په دې لاسو دې څه سپینې سپینې ښکاري
تـه راوړه پـه دې لاسـو دې پـولۍ دي او کـه بـل څـه

صاحبه ته لږ غور شه څه ډېر ښکلې شان اواز راغـی
ته پام وکـړه کړنګېږي چې پیالـۍ دي او کـه بـل څـه

دې بعضـو بعضـو خلکـو پـه تنـدو داغونـه جـوړ کـړل
چې دا یــې نښـانې د بنـدګۍ دي او کـه بـل څـه

دانشـــه لـــر او بـــر درنـــه ځـاربږي قـــربانېږي
چې دا دې کــرامات د شـاعرۍ دی او کـه بـل څـه

## غزل

اوسېږي يو پاګل غـــونډې سړی زما په ذات کښې
فرياد کـــوي غمونه لکه نی. زما په ذات کښې

کتل يې چې هېنداري ته خپل مخ يې کـړو نوکارې
دا چـا راپـارولی ليـوني زمــا پـه ذات کښـې

خدايزده چې د ژوند په کوم مقام باندې به دروميې
دا روح لکه اوسېږي يو کوچی زما په ذات کښې

ای ويني مې کړي، غوخ مې کړي، حلال مې کړي او لاړ شي
يو څوک دی چې را کاږي څه رمبی زما په ذات کښې

**دانشـــه** مـــونږ د ښار لـه روايـاتو خبر نـه يـوو
اوسېږي يو ساده شان غرخنی زما په ذات کښې

زه به ته نیولی نیږم.

## غزل

لکه د لمر لکه سپوږمۍ لکه د ګل ښکلې يې
ته پېښور ته کندهار ته مې کابل ښکلې يې

مونږ ليوني نه وو چې ځان مو په لمبو سوځوه
مونږ ليوني نه وو چې اور ته مو دانګل، ښکلې يې

هغه د بر کلي په دنګ چنار چې ستا نامه وه
پرون هغې پسې چا شاته دا ليکل ښکلې يې

ما ورته ويل زما لپاره خو يو څه ووايه
ويل يې ځار دې شم او پټ پټ يې خندل ښکلې يې

په تا چې کومه تبصره وه نو **دانشه** دا وه
چا ويل چې ټيک مې د اوربل يې ته چارګل ښکلې يې

# غزل

چې په جرګو نه راځي نه دې راځي
یار به تر څو نه راځي نه دې راځي

په نیمو شپو نه راځي نه دې راځي
چې په ګولو نه راځي نه دې راځي

اوښکې یو څو نه راځي نه دې راځي
چې تر لیمو نه راځي نه دې راځي

ما آدم خان ورته رباب سُر کړی
اوس چې دُرخو نه راځي نه دې راځي

نن یو استاد په یو ټولګي کښې ویل
ما له پښتو نه راځي نه دې راځي

**دانشه** لار د مینې سرې لمبې دي
چې په لمبو نه راځي نه دې راځي

## غزل

قـاضي تــه ووایــه تــه دا پېــــژنې؟
د محبــت د غــل ســزا پېــــژنې؟

هغــې بــه ماتــه ویــل مــا پېــــژنې؟
ستا یمـه ستا یمـه زه ستا پېــــژنې؟

زما تصــــوير يې چاته ښودو ويل يې؟
ای جینـــی وگــوره تــه دا پېــــژنې؟

د محبــت جــذبو تــه کفـــــــر وایـي
هغــه د بــر کــلي مــلا پېــــژنې؟

چــې تاتــه نــه وي او پــه تــا پورې وي
**دانشـــه!** تــه هغــه خنــدا پېــــژنې؟

## غزل

وختــه فیصـله کـوې کـه نـه کـوې
بیـا بـه پـرې جرگـه کـوې کـه نـه کـوې

مـا خـو یـا قربـان تـه ځـان جـوړ کـړی و
تــه راتــه تـپـه کــوې کـه نـه کـوې

اوس نـو میکـدې تـه ځـې کـه نـه ورځـې
اوس نـو تـه نشـه کـوې کـه نـه کـوې

شـیخه تـه د سـاز پـه اړه څـه وایـې
شـیخه زمزمـه کـوې کـه نـه کـوې

ای **دانشــه** بـس دی کنـه سـتړی شـوې
اوس لـږه دمـه کـوې کـه نـه کـوې

## غزل

دا چې ستا د سترګو نم دی
دا زما په زړه کښې غم دی

ته زما د ژوند کمی یې
ستا په ژوند کښې څه شی کم دی

دا پیزوان د شونډو لرې کړه
څوک به وچیچي لړم دی

بیا دې دواړه شونډې سرې کړه
بیا د سرو ګلو موسم دی

ستا په خوله کښې بل څه نشته
خو بس لاړه او ځم دی

چېرته بوت دی او مندر دی
چېرته خدای دی او حرم دی

بس دا دوه مې دښمنان دي
یو مې ځان دی بل غنم دی

په صنم کښې مینه نه شته
خو په مینه کښې صنم دی

دا په تا باندې چې گران یم
دا په ما د خدای کرم دی
ستا علاج په دوایانو
او زما هغه په دم دی
ستا په لاړو کښې شفا ده
دا دارو دي دا مرهم دی
په ټول کلي کښې ناري شوي
د دې بوټ د لاندې بم دی

**چې انسان دی نو دانشه!!**
په ما گران دی محترم دی

## غزل

د پورې چــم د مشــر مــلا زوی کلمــه نــه وایــي
بس خـدای خبر چې ولې خـو یو دی کلمـه نه وایـي

یو ځل په وړوکـــــوالي لـه جــوماته چا شــــړلی و
د کــــوڼډې زوی زلمـی شو خو زلمـــی کلمـه نـه وایـي

دا ډېره مـــوده کېږي یـو ســــړي کلمـه ویلـې ده
دا ډېره مـــوده کېږي یـو ســــړی کلمـه نـه وایـي

نو دلته خـو بېخي خلک په شرک کښې اخته شوي دي
نو دلته خو بېخي خلک د خـــدای کلـــمه نه وایـي

**دانشـــــــه** لېـــوني د کلمـــې د حـــده وتی دی
دانشـــه روغ یـــې وایـــي لېـــوني کلمـــه نـــه وایـــي

## غزل

ښه شوه چې تا ترې توبه وویستله ډېره ښه ده
مینه زما په زړه کښې پرېږده دلته ګېره ښه ده

چا ویل هاغه ونه ښه ده چا ویل دغه ونه
ما ویل چې زه پرې دومره نه پوهېږم خو بېره ښه ده

بنګ په لښتو باندې کرې او جینۍ داسې وایي
دا مزدوري مې د پردي بیګار نه ډېره ښه ده

دلته په نیمه شپه د مینې ملنګان را درومي
د دې حجرې دروازه دغسې برسېره ښه ده

**دانشه** ماته د جانان د کوڅې خاوره غوره
دغه خزله یې د عطرو د نمېره ښه ده

## غزل

د گلـــو جـــنازې وې د ازغـــــو په اوږو بار وې
ډولـــی د ارمـــــانونو د پردو په اوږو بـار وې

ويرېږم د هنـدوې سره خالونـه بـه پرې وران کـړې
تېـرې تېـرې نېـزې وې د ســـــرو په اوږو بـار وې

ښايسته ښايسته بانړه دې په چشمانو باندې بوج و
خـــولې دې د واوريـنـــو اننگـــو پـــه اوږو بـــار وې

ای ښه شوه چې ټق وچاودې زړگيه چې دمه شوې
تـر څـو بـه د تـاوجنو سرو لمبـو پـه اوږو بـار وې

د ډېـرو کتـابونو ترجمـې مـې لوسـتې نـه وې
څـه ډېـرې ترجمـې د ترجمـو پـه اوږو بـار وې

اخر عمر دې ځانلـه په يـوازې ځـای کښـې تېـر کړو
بابـا ښـه شـوه چې مـړ شـوې د بچـو پـه اوږو بـار وې

**دانشــــه** چې دې ټـول عمـر پـه دواړو اوږو ناسـت و
تــه گــوره نــن هغــو تــه د هغــو پــه اوږو بــار وې

## غزل

جانانه په لېمو کښې مېنه ستا مې ګرځوله
د ژوند د احساساتو کربلا مې ګرځوله

بس دغه مې کولی شو بس دا مې احتجاج وو
ژړل مې او نقشه د پښتونخواه مې ګرځوله

دا وخت څه داسې بوج وو چې بې وخته يې بابا کړم
زلمی ومه يارانو خو امسا مې ګرځوله

په دې د خلکو بدې شوم په دې د خلکو خوښ وم
سپوږمۍ مې وه په لاسو کښې رڼا مې ګرځوله

د ژوند په مېخانه کښې لکه جام ومه يارانو
بې وسه وم بې زوره وم ګناه مې ګرځوله

بايد دغه پوښتنه خو يو ځل چې له ما وشي
دنيا کښې ګرځېدمه که دنيا مې ګرځوله

**دانشه** چې زلمی شومه رباب مې لاس کښې واخيست
دانشه چې کوچنی ومه مونيا مې ګرځوله

## غزل

سـلگۍ سلگـــۍ روانــه ده لمبــه اخــلي او ژاړي
پـه تلـو کښـېږ پـه شاه گـــوري اجـازه اخـلي او ژاړي

رانجـه یـېږ پــه ژړا ژړا روان پــه اننگــــو شـــو
ټوکمار نـه د واده ځـان لـه جـــوړه اخلــــي او ژاړي

د لاسو نـه نکـــریزې د چــړو پـه څــوکو بیـایي
د شـونډو پــه سرونـو مــې نامـه اخــلي او ژاړي

دا څوک دی چې یې کټ ته دومــره ډېرې اوږې راغلې؟
دا څــوک دی چې هــر څوک یې جنازه اخـلي او ژاړي

دا څــوک دی او دا کـــوم پلـو روان دی او دا ولې؟
**دانشــه** د هـــر چـا نـه بخښـانه اخلـــي او ژاړي

## غزل

زمـا پـه فکـر کښـې جانـان او دوران دواړه اوسي
گـوره پـه يـو کالـه کښـې اور او بـاران دواړه اوسي

پـلار يـې بابـا تـه بيگـار وايـي، زوی يـې ماتـه وايـې
پـه دغـه کـور کښـې د دې کـلي خانـان دواړه اوسي

د دغـه ځمکـې لانـدې کـلي کښـې بـلا انصـاف دی
دلته په يو جامه کښـې خـان او دهقـان دواړه اوسي

د چـا پـه پـوزه ميخکـی هـم لکـه غوښـت دانـه وي
د چـا پـه پـوزه کښـې نتکـی او پيـزوان دواړه اوسي

زه فرشـته نـه يمـه **دانشـه** خـو ښـاروی هـم نـه يم
زمـا پـه زړه کښـې خواهشـات او ايمـان دواړه اوسي

## غزل

تـودو مې ژبه سره پولـی کـړه لګ ساړه پکـار دي
سـاقي تـه وګـوره پـراته بـه وي زاړه پکـار دي

ستا د ګلاب ګلاب څـوانۍ څه صـدقه په کار ده
ستا د شراب شراب څـوانۍ نـه ځارېده پکار دي

زيـړ مازيګـــر او د جانـان لپـې د زهــــرو ډکـې
هـر څـه چـې کېـږي پـه دې لپـو پرېواتـه پکـار دي

ستا د بڼو ښکار څه لـږ غوندې نیمګړی پـروت دی
ستا د بڼو سـنګار لـه لـږ غونـدې رانجـه پکـار دي

تـه ګـورې نـه لـه تنـدې مرمـه او تـه هـم تـږی يـې
شيخه ته بند که دا کتـاب مـړه نـن څښـل پکـار دي

زاهـد په توره شـپه کـښې راغـی راتـه دا يـې وويـل
**دانشـــه** يـاره خپـه نـه شــې لـږ تراخـه پکـار دي

# غزل

ستا د واړه اسویلو تاوان په ما شو
زه یې منمه د مړو تاوان په ما شو

بس ته دواړه لېچې ډکې کړه راوځه
ای که مات شو د بنګړو تاوان په ما شو
ستا د ماتو والو بیا زه ذمه وار یم
ستا د ماتو مېخکو تاوان په ما شو
تاسو راشئ نو الله روزي رسان دی
په کمراټ کښې د اوبو تاوان په ما شو
ته یې راوړه چې یې دې قام ته په سر کړو
زه یې اخلم د پګړو تاوان په ما شو
زر د واړه پښتنو نه تا را ټول کړل
سر د واړه پښتنو تاوان په ما شو

ای **دانشه** حادثې د ژوند ښکلا ده
د دې واړه حادثو تاوان په ما شو

# غزل

چې تا ویل جانانه درنه ځم نو ما به څه ویل
نو خود به بې اختیاره ژړیدم نو ما به څه ویل

ملا چې انتخاب وو د ادم نو ما به څه ویل
او را مې غی په لاسو کښې غنم نو ما به څه ویل

دنیا ته د سودا سره راتلم نو ما به څه ویل
او تا له د دنیا سره درتلم نو ما به څه ویل

دا نه چې د خبرې د کولو سړی نه وم!
جانانه جو زه چې تاته ودرېدم نو ما به څه ویل

**دانشه** خاموشي زما د وس خبره نه وه
توتې توتې له ځانه بیلیدم نو ما به څه ویل

## غزل

د سـتـرګو ګلابونـه دې تـازه سـاته ملنګـې
همداسـې دې د مـخ دا آئينـه سـاته ملنګـې

خـواره واره کـاږه واږه بانـه سـاته ملنګـې
هيڅ وېره لـه چـا مـه کـړه زړه ډاډه ساته ملنګـې

ای! خدای دې ليونی کړه دا پـه کومـه ډډه لاړې
راځـه خـوا تـه مـې کېنـه دا روضـه سـاته ملنګـې

لمبـه بـه شي د زخـم د ګلونـو څانګـه څانګـه
غـرور دې د ښايسـت پـه انـدازه سـاته ملنګـې

د ذهن پـه کنـډول کښـې بخـت زاده سـاته ملنګـې
**دانـش** درتـه بلـېږي ډېـوه مـړه سـاته ملنګـې

# غزل

خبرو کښې شروع شي قصيده رانه اوږده شي
جانانه ستا په حسن تبصره رانه اوږده شي

مقطع رانه لنډېږي او مطلع رانه اوږده شي
يارانو په نظمونو کښې کيسه رانه اوږده شي

لهجه مې ديروجی ده په ما گرانه ده يارانو
په شعر کښې مې سکته شي او سکته رانه اوږده شي

د فن په نيمگړتيا باندې مې پوهه يم جانانه
خو خيال چې زورور شي نو چپه رانه اوږده شي

خبره مې چې لنډه وي جو دوه ټکي په کار کړم
خبره چې اوږده وي جو اوږده رانه اوږده شي

دا خلـق وزگـار نــه وي او زمــا کارونــه هــم وي
خـبره مـې خـوږه وي جـو خـوږه رانــه اوږده شي

ادب تـه د مـذهب چشـمو کښـې گورمـه نقـاد يـم
شـاعر رانــه کــافر شي او فتــوه رانــه اوږده شي

جانانــه چـې را نشــې روژه مــاتي تــه والله چـې
بيا هـيخ مـې زړه تـه نـه کېږي روژه رانـه اوږده شي

دا ځکـه ځـان ساتم د يـا قربـان نـه زه **دانشـــه!**
قربـان رانــه اوږدېـږي او تپــه رانــه اوږده شي

# غزل

خلـک روان دي دا ورکـوټي سـړی پورتـه نـه ځـي
چې دا به تلی نشي یارانو که دی پورته نـه ځـي؟

په ده به هسې د ثواب پر ځـای وبـال سـېوا کـړې
په دې ملا گورې ایمان دی پـوټي پورتـه نـه ځـي

هلتـــه د روغـــو واکـــداري ده لیـــوني تنگـــوي
خلکـو نیـولی لـه گریـوان لیـونی پورتـه نـه ځـي

بلا مودې وشوې په زړه مې تور داغونـه جـوړ دي
بـلا مـودې وشـوې زمـا اسـویلی پورتـه نـه ځـي

اور چــې بلېــږي لــوگی خېــژي دا مـنم **دانشـــه!**
خو په زړگي مې اور بلېـږي لـوگی پورتـه نـه ځـي

# غزل

زه چې کوچنی ومه ناپوهه وم ملا ته ناست وم
زه چې زلمی ومه او پوهه وم نو تاته ناست وم

د ښو لاندې دې د ژوند په رنګ کښې رنګ وم اشنا
د زلفو لاندې دې د ښکلي مخ رڼا ته ناست وم

جامې مې نه وې او د شګو په ډیري کښې خوښ وم
سترګې مې دواړه پټې کړې وې هوا ته ناست وم

ما ویل چې نېغ به مې فریاد د الله در ته یوسي
د کوه طور سر ته ختلی وم موسی ته ناست وم

ونې مې هم پیداکړې ګور، سیوری مې هم پیداکړو
زه لیونی نه وم **دانشه** چې بیدیا ته ناست وم

## غزل

د ژوند د ټولو لويه فلسفه مې شعر ته راوړه
د ګل کيسه مې پرېښوه ستا نامه مې شعر ته راوړه

چې نېغ پکښې کاږه دي او کاږه پکښې نېغ ښکاري
يو داسې جادوګره آئينه مې شعر ته راوړه

تا ويل چې ټپې وايه زه په شعر کله پوهېږم
ما دومره وکړه ګرانه چې ټپه مې شعر ته راوړه

خوږې خوږې خبرې د خپل زړه مې پکښې وکړې
فنکار شومه جانانه ستا لهجه مې شعر ته راوړه

د زړه ويني مې ورکړې کلی کور مې پسې پرېښود
**دانشه** د ارمان د ژوند نقشه مې شعر ته راوړه

# غزل

بـلا مـودې وشـوې چـې شـنه دي غـنم نـه وچـېږي
دا ډېرې ورځې مې پـه سترګو کښې نـم نـه وچېږي

هغـې لمـده لوپټـه بیـا د خـوږ پـه کـاڼي پرېښـوه
هغـې ویـل بـس دی ناوختـه شـو ځـم نـه وچـېږي

هسـې عبـث مـې زیـارتونو بانـدې مـه ګـرزوئ
چـا مـې ایښـودي پـه زخمونـو مـرهم نـه وچـېږي

مـلا پـه دې خـبره زه لـه دیـن نـه وویسـتمه
مـا ورتـه ویـل چـې پرهرونـه پـه دم نـه وچـېږي

هغه چې هو به هو دا ستا په شان دی هیڅ نه وایي
هغـه ګـل لونـد پـه خپلـو اوښـکو سـاتم نـه وچـېږي

**دانشــــه** خویـنـدې دعـاګـانې ترانـې د رحمـت
وروښـه بـاران د موسـمونو پـه چـم نـه وچـېږي

# غزل

په خيال کښې دې د ښکلې جنت حوره ده او حوره ده
بس لاس له ژونده وينځه دا توره ده او حوره ده

دنيا کښې ترې پرهېز يم، مسلمان يم خو جنت کښې مې
شراب دي او غلمان دي او کجوره ده او حوره ده

چا وپوښتل چې خنګه ده په دوه ټکو کښې ووايه!
ما ژر ژر ورته ووېل چې مغروره ده او حوره ده

تا خانه قبول کړې وه دې خوارې قبول کړې وې
اوس ټول عمر غلامه ده، مجبوره ده او حوره ده

ما نه غوښتل چې ياده شي زه نه غواړم چې ياده شي
بدبخته ده، کم بخته ده، مزدوره ده او حوره ده

**دانشه** خدای دې خير کړي د ايمان رڼا مې تته شوه
جامونه دي، ماښام دی، وربخ ګوره ده او حوره ده

## غزل

د مینـې تراخـه ډېـر وي خـو خـواږه سـړي لـه ښـه وي
چـې دا نـه وي یـارانو نـو بیـا څـه سـړي لـه ښـه وي؟

دا بعضـې بعضـې ښـکلي خـو ړانـده خلـک بینـا کـړي
دا ځینـې ځینـې ښـکلي خـو ړانـده سـړي لـه ښـه وي

زمـونږه پـه وطـن کښـې خـو پـه کـاڼو کښـې شـفا ده
زمـونږه پـه وطـن کښـې خـو رانجـه سـړي لـه ښـه وي

منمـه وطـن خـوږ دی پریښـودل یـې پکـار نـه وي
خو ځینې ځینې وخت کښې ترې واته سړي له ښه وي

## غزل

روان یـم راپـسـې څـه اوازونـه دي خـو وي دې
دروغ دي، بـې بنيـاده الزامونـه دي خـو وي دې

ښه ټيک شوه ځه صحيح شوه په دېوال يې درته وايم
چا ويل چې په دېوال پورې غوړونه دي خو وي دې

راځه خوا ته مې کېنه چې دا زړه درته نن تش کړم
منمـه چـې د دواړو څـه کارونـه دي خـو وي دې

مورجانې ستا نه ځار شم، ستا منمه لمونځ لـه ځمه
ماښام دی، پـه پيـالو کښې شرابونـه دي خـو وي دې

## غزل

که تور پیکی د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟
یا که سور بنګړی د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟

قسم په خدای د سړي خوښه په خپل وس کښې نه وي
قسم په خدای د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟

نه نو په دې به راله دومره لوی عذاب راکوي
جي! که څه شی د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟

ملا له زړه نه تپوس وکړه! دې تصویر ته ګوره
که چېرته دی د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟

مړه دا زړه دې لږ پراخه کړه کینه ښه نه وي
که هر سړی د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟

دغه ښکلا، دغه نشه، دا موسیقي **دانشه!**
که لږ پوتی د سړي خوښ شي نو دا بده ده څه؟

# غزل

خیالونو ته یې مه ګورئ! لفظونو کښې ګناه ده
د بعضې شاعرانو په شعـــرونو کښې ګناه ده

د ژوند د جدوجهد کتابونه څله ګـــورئ!
د ژوند د جدوجهد کتـابونو کښـــې ګنـاه ده

ای خېر که د انسان ویـــنه بهېږي پروا نشته
ای لاس چېرته ور نه وړئ په سازونو کښې ګناه ده

نو ویلی شو چې خدایه تعویذونه د کار نه دي؟
نو ویلی شو چې خدایه تعویذونو کښې ګناه ده

جانانـه منجـور راپسـې شـوي دي مـا وژني
ما دومره قدرې ویل چې زیارتونو کښې ګناه ده

**دانشه** داسې ښکاري جوړ جنګونو کښې ثواب دی
دانشـه جوړ د امـن کوششـونو کښـې ګناه ده

## غزل

د ژوندانــه تېــې اکــثر کــوي دا ښــه نــه کــوي
زمــا پــر زړه بانــدې اثــر کــوي دا ښــه نــه کــوي

دا چې له ساز ځينې منکر دي دا پرې نه دي پوهـه
دا چــې غندنــه د هــنر کــوي دا ښــه نــه کــوي

خــدای د اویــاوو مېنــدو مینــې هــومره مینــه کــوي
خلــک د خــدای پــه نامــه شر کــوي دا ښــه نــه کــوي

دا چې جومـات ورانـوي دا خـو نـو بیخـي کفـر دی
خــو دا تــوهین چــې د منــدر کــوي دا ښــه نــه کــوي

دا زړه مې ښه دی خو دا یو عادت يې ډېر ښـه نـه دی
چــې دا پــه هــر ښــکلي بــاور کــوي دا ښــه نــه کــوي

ځي دې د ژوند له ښائستونو دې خبر وي **دانش**
خو چې په ورکه لار سفر کوي دا ښه نه کوي

ښه ورته پته ده قبلیږي تک په تک قبلیږي
راته ښېرې هر مازیګر کوي دا ښه نه کوي

زه میړنی نه یمه نور مې جنګ ته مه هڅوه
دا شاباسی دې را له ښکر کوي دا ښه نه کوي

دا زما خلک دي میېن یمه پرې ویارمه پرې
دا چې په ما پسې لښکر کوي دا ښه نه کوي

څوک چې عالم پورې ملنډې کوي دا ښه نه ده
څوک چې عالم ته سپک نظر کوي دا ښه نه کوي

له تندې مړ شومه **دانشه** ګوټ ترې نه راکوي
ځانته ګوټونه د کوثر کوي دا ښه نه کوي

# غزل

د ستړي ژوند دې بېوسی، راله څه خوند رانکړو
يارانو بس دی زندگی، راله څه خوند رانکړو

زما د شعر په مطلب باندې ونه رسېدو
ويل يې ستا دې شاعری، راله څه خوند رانکړو

په ما د وسپنې نينې چيچي او داسې وايي
بيا به دا وايي چې ډوډی، راله څه خوند رانکړو

بلها مودې وشوې ياران د کلي نه وينمه
دومره اوږدې مسافری، راله څه خوند رانکړو

چې دا د خيټې غم خراب کړم که مې زړه بوډا شو
سپوږمی، ته ناست وم خو سپوږمی، راله څه خوند رانکړو

شپونکی بدل و جو شپيلی، ته مې غوږ کېښودو
شپونکی بدل و جو شپيلی، را له څه خوند رانکړو

**دانشه** نن مې ځانته فکر و نن ډېر ستړی وم
دانشه نن دې موسيقی، راله څه خوند رانکړو

# غزل

خلکو ادا کړه، خلکو وکړه د سپرلي جنازه
نن چا مېدان ته وه راوړې د لالي جنازه

وخت مو د ټولو قربانو راله بدل راکوي
اوس به مو وژني اوس راوړي د يو سړي جنازه

خدايزده چې ولې يې دانه سپاري او څه پرې کوي؟
مودې شوې تېرې يو سړی دی ګرځوي جنازه

هغې ناري کړې زما ورور و ما خو ونه ليدو
ابی ته اخوا شه دا خلک خو اوس وړي جنازه

پښتون زلمی و په وجود پورې يې غوښه نه وه
خلکو را وويسته له کوره نه خالي جنازه

دا يې ارمان و چې بنګړي ورله له ښاره راوړم
**دانشه** لاس کښې ګرځومه اوس د بنګړي جنازه

## غزل

د لر يې کړه جو مړ يې کړه
د بر يې کړه جو مړ يې کړه

دا يو نيم پکښې پوهه دی
کافر يې کړه جو مړ يې کړه

ای! شر له دې ساتلی دی
په شر يې کړه ! جو مړ يې کړه

کتاب سره يې ورانه ده
نهر يې کړه! جو مړ يې کړه

نو يو خويې مه وژنه
لښکر يې که جوړ مړ يې کړه

**دانش!** دې حق ته حق وايي
منکر يې که جو مړ يې کړه

# غزل

دا چې خلک ورپسې دي کلېواله!
دا ددې دور فتنې دي کلېواله!

دا چې لارو کښې پرتې دي کلېواله!
د يو لاس دی د بل پښې دي کلېواله!

مړه پوهه يم ياري راسره نکړې
دا بهانې خو دې بهانې دي کلېواله!

خوښه ستا ده چې په دې خښې که په دې خښې
دا پيالې دي دا کاسې دي کلېواله!

دا پېنځې دې د پړکو له پاسه تېک دي
دا جامې خو دې اوږدې دي کلېواله!

ما خو ويل چې ته به کور ځانله ودان کړې
دا خو جوړې څه مورچې دي کلېواله!

## زه به نه لېونی کېږم!

حق حېران یمه په غاړه دې ټوپک دی
او په لاس کښې دې تسبې دي کلېواله!
هر یو کور پکښې د قبر په مثال دی
اوس خو کلي هدیرې دي کلېواله!
خدای خبر چې دا به څرنګه سمېږي
د ژوند لارې مو کږې دي کلېواله!
څه خبرې چې کومه نو ویرېږم
په اوږو مې فرښتې دي کلېواله!
د بلها ولس خبرې را په سر دي
ډېر یې سترې کړم، درنې دي کلېواله!
مونږ ټول څیزونه خپلو کښې ویشلي
دا زما دي دا د دې دي کلېواله!
دا چې مونږ یې په کنډرو کښې اوسېږو
دغه پورې یې بنګلې دي کلېواله!
پښتانه به ټول را یو ځای شي **دانشه!**
زمونږ دغه اندازې دي کلیواله

## غزل

ډېره درنه وه بېګا شپه نه وته
زما له زړه نه چې وته نه وته

تا ویل توبه زما له مینې وکړه
کوشش مې وکړو خو توبه نه وته

چې ستا له خولې نه یا قربان نه وتو!
زما له خولې نه به ټپه نه وته

د یو مزدور په خوله کښې لاړې نه وې
په یو مزدور باندې روژه نه وته

د قام په سترګو کښې لشه پرته وه
د قام له سترګو نه لشه نه وته

یو ځل دې لپه کښې اوبه راکړې وې
بیا رانه ټول عمر نشه نه وته

## غزل

د ولسونو نه ځان لرې ساتې
د اېپنونو نه ځان لرې ساتې

شاعر به څنګ د ژوند تصویر جوړوي
چې له دردونو نه ځان لرې ساتې

په خیراتونو کښې دې خېټه وکړه
د خیراتونو نه ځان لرې ساتې

اذان چې وایې نو غوږونه بند کړې
د اذانونو نه ځان لرې ساتې

د بارانونو دعاګانې غواړې
د رحمتونو نه ځان لرې ساتې

د آیتونو ترجمې ته ناست یې
د آیتونو نه ځان لرې ساتې

د شرابونو تذکرې دې خوښې
د شرابونو نه ځان لرې ساتې

نه نو شاعره درد به څنګ تصویر کړي
چې د دردونو نه ځان لرې ساتي
په تعویذونو دې روزګار روان دی
د تعویذونو نه ځان لرې ساتي

د قیامتونو نه دې ویره کېږي
د قامتونو نه ځان لرې ساتي

شیخه! دا ته څه عجیبه سړی یې؟
چې له سازونو نه ځان لرې ساتي

په جنتونو پسې منډې وهې
د جنتونو نه ځان لرې ساتي
په قاموسونو کښې معنی لټوې
د کتابونو نه ځان لرې ساتي

لامبو دې نه ده زده هوښیار **دانشه!**
د دریابونو نه ځان لرې ساتي

## غزل

مړه ويـې کـړه گـذار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه
اوس چې امـر د سرکـار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

دا ځل مه ځه ښه ايسار شه دا ځل زړه زما ښـه نـه دی
زويـه ځـه دی خـو روزگـار دی نـو يـا دلتـه او يا هلتـه

ښـه جي ځـه وکړو؟ دا پريـږدو هلتـه بـل پـه انتظار دی
مړه ځـه دی خـو جـو يـار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

ښه ځه ټيک شوه ځه صحيح شوه دا به نه ځښو دا حرام دي
شـيخه منمـه خـو خـمار دی نـو يادلتـه او يـا هلتـه

ده تـه دلتـه دار تيـار کـړئ گنـې هلتـه دار تيـار دی
هـر پښـتون اتـل لـه دار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

دومره صـبر خـو بـه خدايـه نـو بېخـي لـه مـا ونـه شي
زه بـيمار يـم دا انـار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

## زه به نه لېونی کېږم!

هـم يـې دلتـه رالـه راکـړه! هـم يـې هلتـه درنـه غـواړم
تـه مالـک يـې سـتا اختيـار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

مړه مونږ پر ژوند مئين يو، مونږ دې ټول عمر ژونـدي يـو
مـړه مـونږ لـه ژونـد پکـار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

څه دې راکړه څه مې درکړه څه دې کېږي څه مـې کېږي
هـن در واخلـه دغـه شـمار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

څـه مـو دلتـه درتـه وکـړو څـه بـه هلتـه درتـه وکـړو
ای **دانشـــــه** انتظـار دی نـو يـا دلتـه او يـا هلتـه

## غزل

لایـق د دې کرسـۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی
دا کـس د مشـرۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی

ته ګوره ادم خان پرې هډو سترګې پورته نه کړې
دا غـرړ د درخـانۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی

جانانـه تـا پـرې هسـې مـلا تړلـه را ګـذار شـوې
دا آس دې د سـیالۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی

تـه اورې بـاجوړ کښـې شـېرعالم کنځلـې کېـږي
تقصـیر د مېمـونۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی

بې وخته دې پیالۍ په لاس کښې راکړه رانه لاړې
دا وخـت مـې د پیـالۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی

**دانشه!** سمدستي یې دیدنونه پر مونږ بند کړل
دا ښـکلی د خـانۍ جانانـه نـه و، تـا ویـل دی

## غزل

ای ټول خلک را ټول دي يو سړی ليونی کئ
دا خلک ورته ټول څه ليونی ليونی کئ

ته ټول عمر د وخت په لېونو پورې خندېږې
باداره ته يې گوره تا به خدای ليونی کئ

دا خلک د ژوندو نه زيات په مړو خفه کېږي
دا خلک مړي ونازئ ژوندی ليونی کئ

ښايست د اننگو دې پسرلي ته ماتې ورکړه
ښايست د اننگو دې پسرلی ليونی کئ

دانشه هغه پورې چم ته نوی ملا راغی
**دانشه** دغه پاتی چم به دی ليونی کئ

## غزل

دا ښکلی چې محفل کښې دومره غلی پاتې شوی
کاروان د محبت ترینه جوړ تللی پاتې شوی

دا اوس چې په سورو جامو کښې ګرځي او خېر غواړي
دا یو ملنګ د دې کلي ښاغلی پاتې شوی

د ژوند له سختو ځار شمه رشتې یې راته وښوې
تل ما سره د ورور په نوم ملګری پاتې شوی

بلها وو خو جانانه تا چې ویستې وو خبر یې
هم هاغه یو تصویر زما سپېڅلی پاتې شوی

**دانش** خو خبر لوست دی بس خبرې کړي لګیا وي
حېران یمه چې تاته ځنګه غلی پاتې شوی

# غزل

نرخونـه يـې جـدا وو شـيان دواړه خرڅېـده
دنيـا وه ځنـاور او انسـان دواړه خرڅېـده

يـو چاتـه ضرورت و د اوبـو لـه تنـدې مړ شـو
يـو چاتـه ضرورت و چشـمان دواړه خرڅېـده

مندر و، اهرمن پکې د وخت قيمت ته پروت و
جومات و پکښې دين او ايمان دواړه خرڅېده

زمـونږه بېـوسي وه گنـې دومـره گرانـه نـه وه
**دانشـــه** محبـت او جانـان دواړه خرڅېـده

## غزل

له مودو نه په عذاب یم، ته وایې واه واه
زه وایم غرق یمه خراب یم، ته وایې واه واه

زه وایم کور د پښتون رنګ شو، ته وایې ډېر ښه
زه وایم سوی یم کباب یم، ته وایې واه واه

زه وایم ورک شومه ورکیږم، ته وایې حد دی
زه وایم وتی له نصاب یم، ته وایې واه واه

زه وایم زه لېونی کېږم، ته وایې آه ها
زه وایم دګ ته د قصاب یم، ته وایې واه واه

زه وایم لاړمه ورکېږم ته وایې خیر دی
زه وایم ډوب یمه غرقاب یم ته وایې واه واه

زه وایم ستا یم ستا **دانش** یم ته وایې کوم یو
زه وایم زه ستا انتخاب یم ته وایې واه واه

## غزل

زما نه مخکښې ته وې خو چې ستا نه مخکښې څه وو؟
نو جوړه چې دنیا نه وه دنیا نه مخکښې څه وو؟
یو څو سوالونه داسې چې سوالونه ترې جوړېږي
دا تاته چې رښتیا دي دې رښتیا نه مخکښې څه وو؟
دا ډېر خلک غلط وو که دا لږ خلک غلط دي؟
دا اوس چې رڼا راغله دې رڼا نه مخکښې څه وو؟
تا ولې بې قیمته کړه د سر سیوری یې ورک شو
آدمه په ژوندون کښې له حوا نه مخکښې څه وو؟
وجود خو نو صحیح شو تا له خاورې نه راجوړ کړ
دا ساه چې ترې راجوړه ده دې ساه نه مخکښې څه وو؟
تا هسې زه بدنام کړمه، په پوخ ایمان کافر شوم
ما دومره قدرې ویل د ابتداء نه مخکښې څه وو؟
د دې دور ماشوم یم، بَو بلا نه نه ویرېږم
بې بې په دې مې پوه کړه له بلا نه مخکښې څه وو؟
دا اوس چې پسې ټول خلک ولاړ دي او خاموش دي
**دانشه** په مذهب کښې له ملا نه مخکښې څه وو؟

# غزل

الله! تو ما به معاف کړې چې توبې له چرته درشم؟
والله زړه خو مې کېږي چې کعبې له چرته درشم

د واړه گناهونو کفارې له چېرته درشم
بس دومره رحم وکړه چې سجدې له چېرته درشم

یارانو دغه زوړ پوزی له کټ نه لرې نه کړئ!
امکان لري چې نن سبا دمې له چېرته درشم

جانانه ستا د سرو لپو اوبه زما یادېږي
یو څو لپې به راکړې چې چینې له چېرته درشم

ای دا ځل تفسیرونه بلها ډېر ځان سره راوړه!
ای دا ځلې کېدای شي ترجمې له چېرته درشم

ته هم لکه طوفان یوې لحظې له چېرته راشې
زه هم لکه باران یوې شېبې له چېرته درشم

بغیر له تانه څه و ژوندون څنگ تیر شو **دانشه؟**
دا حال به درته وایم خو چې شپې له چېرته درشم

## غــزل

زمــا شــعر زمــا پېغــام دی او ښــه عــام دی
او جــي مينــه ده الهــام دی او ښــه عــام دی

دغـــه سر دی، دا تنـــه ده، دا پښـــتون دی
او جــي بلکــل قتــل عــام دی او ښــه عــام دی

مـــږه کفـــر دی، الحـــاد دی او فتـــوه ده
دلتــه مــرگ پــه دې الــزام دی او ښــه عــام دی

خــوا تــه راشي راتــه وايــي، تــه خــبر يــې!؟
اوس دې هســې نــوم بــدنام دی او ښــه عــام دی

د زمزمــو گــوټ حــلال دی خــو نايــاب دی
د شرابــو گــوټ حــرام دی او ښــه عــام دی

مــا پــر هــر لــوري ويشــلې دی، **دانشـــــه!**
بېرتــه ماتــه احــترام دی او ښــه عــام دی

# غزل

په غمو کښې یو غمی و ایسته ورک شو
په دې ښار کښې یو سړی و ایسته ورک شو

او جې! هاغلته د خاورو لاندې پروت دی
ځینو سترګو کښې اغزی و ایسته ورک شو

پردي ښار کښې د خپل ځان په تماشه و
کلېوال ؤ غرځنی ؤ ایسته ورک شو

څه بې توله بې ترتیبه به لګیا و
یو شاعر و دیروجی و ایسته ورک شو

دا به نه وایې چې څه شی و او څه شو
خو بس زړه نه وو څه شی وه ایسته ورک شو

تا به ویل **دانشه** زه یمه زما دی
هغه خپل نه و پردی و ایسته ورک شو

## غزل

منـــــمه مجبورۍ ده چېرته يار خو به ساتو
خو دومره هم غورځېږو نه معيار خو به ساتو

وزګار کېناستی نشو ځان له څه نه څه کار ګورو
که هېڅ نه وي د بل په کار کښې کار خو به ساتو

اوس ژوند له چې نغمه ده د ساه ګانو په مثال
واعظه نو بيا څه وکړو ستار خو به ساتو

چا ويل په دې لار تللې ده ويل يې چې راځم
راځي که نه راځي اوس دغه لار خو به ساتو

**دانشـــــــه** زهر زهر بعضې خلکو له دارو
لستوڼي چې ساتو نو پکښې مار خو به ساتو

## غــزل

ځــه ســاده بــاده شـڼله کلېوالــه وه خــانجي
خو بـس دا وه چې لیـدو تـه مې لېوالـه وه خـانجي

ای قسم دی چې ګیله مې لـه غوږونـو ځنـې نـه وه
ای قسـم دی چې ګیلـه مې لـه دېوالـه وه خـانجي

دا چې اوس ترېنه په شپه کښې د سلګو آواز راخیژي
چا وژلې پـه دې غـر کښـې بنګړیوالـه وه خـانجي

مــونږه ټولــو تالــه راوړه تــا یــوازې کــور تــه یــوړه
دغــه لویــه برخــه ســتا وه دغــه تالــه وه خــانجي

## غزل

يـارانو دا ژونـدون مـې ډېـر بيكـاره دی قسـم دی
بـې كيفـه دی، بـې مينـې دی، بـې يـاره دی قسـم دی

څـه شی مـې پـه سـينه کښـې نـاقلاره دی قسـم دی
او زړه دی د چـا غـم پکښـې بسـياره دی قسـم دی

کـه چـا درنـه زمـا د کـاروبار پوښـتنه وکـړه
بـس لنـډه ورتـه وايـه بـې روزګـاره دی قسـم دی

دا واخلـه دا مـې زړه دی دا د ځـان سره سـمبال کـړه
راوړی مـې جانانـه سـتا لپـاره دی قسـم دی
انکيـر، منکيـر تـه وايـه لويـه خدايـه چـې لـږ تـم شي
راوړی مـې ځـواب پروردګـاره دی قسـم دی
يارانو دغـه ښـکلی مـو پـه سپينه خولـه تېـر بـاسي
يـارانو دغـه ښـکلے بـې اعتبـاره دی قسـم دی
**دانشـه** مبـارک شـه انقـلاب تـه لار جـوړېږي
ليـدلی مـې د ژونـد پـه هـره لاره دی قسـم دی

## غزل

ژوند لــه د رنگونــو د امکــان خــبره ونــه شــوه
ونــه شــوه زمــونږ سره د ځــان خــبره ونــه شــوه

دا ځلــې دې ځــان د انتظــار لمبــو تــه نــه سپارم
دا ځـل مــې د ځـان سره د ځـان خـبره ونـه شـوه

ټولې زړې نښــې یــې واپس کــړې دا یــې وویــل
مــه راوړه لــه ښــاره اوس پېــزوان خــبره ونــه شــوه

شل لکه یې واخیستې، د ورونو کار یې وشو خو
کونــډه وه، د کونــډې د تــاوان خــبره ونــه شــوه

نن مې ورته بیا **دانشه** ونه ویـل چـپ پاتې شـوم
ویــره وه د اوښــکو د بــاران خــبره ونــه شــوه

## غزل

ستا نه به تر تا پورې جانانه څومره لاره وي؟
مانه به تر ما پورې جانانه څومره لاره وي؟

تا کښې چې ساه راشي نو په ما کښې به ساه پاتې شي
ساه نه به تر ساه پورې جانانه څومره لاره وي؟

سترګو دې د زړه کیسه د اوښکو په لار وکړله
نم نه به رسوا پورې جانانه څومره لاره وي؟

او دې ویل خو نا دې خولې نه وتې ننواتې شوه
او نا، نه به تر نا پورې جانانه څومره لاره وي

غوږ ته مې نږدې شوه ویل زما **دانشه** ووایه
ما نه به تر تا پورې جانانه څومره لاره وي

## غزل

د سرونو خیر ته ناست یو
د وختونو خیر ته ناست یو

د ملکونو نه خیر راغی
د ملکونو خیر ته ناست یو

له عمرونو نه خیر غواړو
له عمرونو خیر ته ناست یو

له کلونو پس مو ویل
له کلونو خیر ته ناست یو

دومره ډېره تنگدستي ده
د سوالونو خیر ته ناست یو

د قبرونو نه خیر غواړو
د قبرونو خیر ته ناست یو

بس په دوه روپۍ تعویذ دی
د دمونو خیر ته ناست یو

د چنار د سیوري لاندې
د شالونو خیر ته ناست یو

ای **دانشه** هنرمند یو
د لفظونو خیر ته ناست یو

زه به نه لېونی کېږم؟

## غزل

ته چې گل شوې نو د بل شوې

ځوانیمرگــــه د اوربـــــل شـــوې

تـــه چـــې دوه ورځـــو لـــه لاړې

نـــو بـــس لاړې د کابـــل شـــوې

لا خـــو نیمـــه لار پرتـــه ده

ته په نیمه لار کښې شل شوې

ځـــار پښـــتونه درنـــه ځـــار شـــم

څه د وخت میچن کښې دل شوې

بس په یو جنگ کښې شریک شوې

دا دې خیال شو چې اتـل شـوې

گرانـــه! تـــه خـــو داســـې نـــه وې

گرانـــه تـــه خنگـــه بـــدل شـــوې

ای دانشـــه تـــه مـــې ژونـــد وې

ای **دانشـــه** تـــه اجـــل شـــوې

## غزل

داسې مې شعر داسې تهٔ په کښې تصویر
لکه چې وي په آئینه کښې تصویر

طالبه ستا په سپاره کښې تصویر
زما د خیال په بُتخانه کښې تصویر

ځان راته داسې ستا په زړه کښې ښکاري
لکه چې ښکاري په کعبه کښې تصویر

پس له سُبْحانَکَ مې هیڅ ونه ویل
راته را یاد شو په سجده کښې تصویر

**دانشه** ما به تصویر کړی وې خو!
ساه رانه غواړي بیا په شپه کښې تصویر

## غزل

جانانه بې سجدو دې سومنات نیمگړی پروت دی
ممبر باندې څوک نشته جو جومات نیمگړی پروت دی

ای اوس هم بې له تا نه زما ژوند نیمگړی ښکاري
ای اوس هم بې له تا نه زما ذات نیمگړی پروت دی

یو څوک په خپله جاله کښې د رب نه وارث غواړي
یو څوک په خپله جاله کښې میرات نیمگړی پروت دی

ای خدایه! ستا په ذات باندې مې حَمْد ته زړه کېږي
ای خدایه! را مدد شه مَناجات نیمگړی پروت دی

## غزل

په ما که وؤ خو په تا نه وؤ گورې
الزام، په ټوله دنيا نه وؤ گورې

هاغه سړی چې ما يې ذکر کاوه
هغه عالم و ملا نه و گورې

جرم مې کړی دی منمه يې خو!
دا مې په خپله رضا نه و گورې

غم د جانان و چې په غم يې کړمه
غم د بيگاه او سبا نه و گورې

**دانشه** خال يې په جبين ښکارېدو
سحر خو و خو بېگا نه و گورې

## غــزل

مـا چـې غـلـى تـصـوير جـوړ کـړو
وخـت تـرې ښـکلى تـصوير جـوړ کـړو

دې فنكـــار ســـړي خـــو گـــوره
ســـاه نيـولى تـصــوير جــوړ کــړو

تـــا ويـــل جـــوړه پښــتونخواه کـــړه
مـــا ســپيزلى تـصــوير جــوړ کــړو

وختـــه ځـــومره پـــه هـــنر دې
نـــا ليــدلى تـصــوير جــوړ کــړو

دا د ژونـــد مــې بيوســـى وې
تـــا تــرې ولـــې تـصــوير جــوړ کــړو

تـــا ويـــل درونـــد يمـــه **دانـــش** يـم
مـــا ســپيځلى تـصــوير جــوړ کــړو

## غزل

ته د ارمان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
زه د زندان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
د باچا خان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
د هر افغان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
ای د ایمان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
ای په ایمان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
خړ کړو دوران په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
وران کړو باران په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
لاندې یې څه کېږي او څه روان دي غلی ښه یم
پاس د قرآن په دیواله باندې جوړ شوی تصویر
بلها بدرنگه دی د بریتو نه یې وینې څاڅي
زمونږ د خان په دیواله باندې جوړ شوی تصویر

**دانشه!** ژوند دومره بدرنگه دی په دې دور کښې
لکه شي وران په دیواله باندې جوړ شوی تصویر

## غـزل

دا وخـــت روان دی او زه ولاړ یـــم
ژونـدون مـې گـران دی او زه ولاړ یـم

نـــري بـــاران دی او زه ولاړ یـــم
زړگـــی مـــې وران دی او زه ولاړ یـم

قـــاتلان راغلـــل تـــورې یـــې راوړې
خوشـــې میـــدان دی او زه ولاړ یـــم
پـه شـا مـې راوړو نیکـي مـې وکـړه
پـــه مـــا تـــاوان دی او زه ولاړ یـــم
چـاپیره گـــورم اوتـــر اوتـــر یـــم
ســـیلۍ طوفـــان دی او زه ولاړ یـــم

سرود غږېـــږي، جونـــه گـــډېږي
رنگـــین دالان دی او زه ولاړ یـــم

# زه به نه لېونی کېږم!

تــلاوت کېـږي ســترگې مــې نــم دي
د اور بيـــــان دی او زه ولاړ يـــــم

ښـاپيرۍ راغلـې او زه يــې ښـکل کـړم
خلـــک حــيران دی او زه ولاړ يـــم

فيصـــله وشـــوه جـــرم ثابـــت شـــو
گـــــواه جانـــــان دی او زه ولاړ يـــــم

پــه تــا ســپرلی دی او تــه روان يــې
پـــه مـــا خـــزان دی او زه ولاړ يـــم

بختـه کوتـه يـې لـه تـا نـه ځـار شـم
**دانـــــــش** روان دی او زه ولاړ يـــم

## غــزل

نـن مـې لیـده لـه خـدای نـه ډېـر خپـه ؤ
یـو ځـو ړانـده لـه خـدای نـه ډېـر خپـه ؤ

دا چـې ولاړ ؤ د ړنـــدو پـــه ســـترګو
هاغـه بانـه لـه خـدای نـه ډېـر خپـه وو

چـې یـې سـایه د پـلار لیـدلې نـه وه
هاغـه واړه لـه خـدای نـه ډېـر خپـه ؤ

چـې پښـتنو نـه بـه خـدای ډېـر خپـه ؤ
کـه پښـتانه لـه خـدای نـه ډېـر خپـه وؤ

دانشه څه له خدای نه ډېر خوشحال وؤ
**دانشـــه** څـه لـه خـدای نـه ډېـر خپـه وؤ

## غزل

ستـــرګي دي وغـــوړوه بيـــا جنـــګ دی
دغـــه زمـــا دی او کـــه ســـتا جنـــګ دی

زه نـــاروا تـــه روا نـــه وايمـــه
پـــه دي زمـــا او د لالا جنـــګ دی

دواړه د يـــو بـــل نـــه خوندونـــه اخلـــي
د لـــوپتې او د هـــوا جنـــګ دی

شابه د خدای نه سوال د خير وغواړه
منـبر تـه وخيـژه مـلا جنـګ دی

**دانشـــه** جنګ دی د مـذهب پـه نامـه
خـو حقيقـت کښـي پـه دنيـا جنـګ دی

## غـزل

وږو لــه ښــايي چــې وږې وږې خــبرې کــوي
زږو لــه ښــايي چــې پخــې پخــې خــبرې کــوي

په خوږو شونډو خو ترخې خبرې خوند نه کوي
خوږو له ښايي چې خوږې خوږې خبرې کوي

دا سړی څوک دی چې درانه درانه لفظونه وايي
دا سړی څوک دی چې درنې درنې خبرې کوي

هاغــه چــې بيرتــه تلــه زمــا پــه اړه دا يــې ويــل
هاغــه سړی خــو څــه سړې سړې خــبرې کــوي

هغه د ژوند په لار **دانشــه** لوی سفر کړی دی
هغــه بــه خامخــا اوږدې اوږدې خــبرې کــوي

# غـزل

پـه سـترگو کښـې اوسـېږي دریـاب خـبرې نـه کـوي
وبـه کـړي خـو اوښـکې پـه حسـاب خـبرې نـه کـوي

ماته خو په نیمو نیمو شپو کښـې ډېر څـه ووايـي
چـا ویـل ملگـرو چـې ربـاب خـبرې نـه کـوي

خدای خبر چې چا ورته په شونډو کاڼي ایښـي دي
ډېـره مـوده وشـوه چـې گـلاب خـبرې نـه کـوي

ورشـه سـاقي جانـه! مـلا جـان تـه داسـې ووایـه!
ماتـه دې څـوانۍ کښـې د عـذاب خـبرې نـه کـوي

هاغـه ورځـې لاړې چـې طـوطي وؤ چغېـدلو بـه
ډېر دې کړو **دانـش** پسې خـراب خـبرې نـه کـوي

# غـزل

سـيلۍ راځـي طوفـان راځـي او وړي بـه مـې
ای! اوس بـه تيـز بـاران راځـي او وړي بـه مـې

ويـل بــه يــې وړه يمــه خــو يــاد ســاته
يــو ځلــې بــه پيريــان راځــي او وړي بــه مــې

زمــا بــه لا پوښــتنې تــه يــاران راځــي
زمــا بــه لا يــاران راځــي او وړي بــه مــې

ای اوس د محبــت معــراج تــه رســمه
ای اوس بـه مـې جانـان راځـي او وړي بـه مـې

زه د پښــتنو **دانــش** يــم گــران يمــه
يو ځـل بـه لـوی کـاروان راځـي او وړي بـه مـې

# غـزل

پـه ځـه شي بلـه کـړم ډېـوه ماښـام دی
چغـــه د کـــوره راختـــه ماښـــام دی

سر يـې سرتـور کـړ او ښـيرې يـې وکـړې
چا ورتـه هـم نـه ويـل چـې مـه ماښـام دی

پـه تـوک ډوډۍ پسـې ورونـه وهـي
ستاسو پـه چـم کښـې يـو ميلمـه ماښـام دی

هسـې دا خوشـې لارې ځـه لـه ځـارې
هغـه بـه نـه راځـي راځـه ماښـام دی

**دانشـــه** دا کـه جنـت نـه دی ځـه دی
زه يـم هغـــه ده او هغـــه ماښـــام دی

## غـزل

د ســترگو د رنگونــو پــه ښــکلا پســې راتلــه
پــه غــلا بانــدې مئينــه وه پــه غــلا پســې راتلــه

زه ځکــه د تيــارو پــه درنيــدو نــه بوږنېــدم
زه پوهــه وم يــارانو چــې رڼــا پســې راتلــه

د ســترگو نــه يــې اوښــکې بهېــدې لــه مانــه تلــه
زه ځکــه غريــو نيــولی وم ژړا پســې راتلــه

د وخــت د ســوداگرو لاس کښــې تــورې وی جانانــه
زمــا ســر تــه ولاړ ؤ تــول خنــدا پســې راتلــه

د اوښــکو ملغلــرې د نرگســو غــاړکو کښــې
**دانشــه** دغــه ځــوک وه دا پــه چــا پســې راتلــه

## غزل

زما پـه زړه کښې د وفـا ارمـان لـه سره نـه و
هغـه زمـا نـه وه زمـا جانـان لـه سره نـه و

په هغه کلي کښې د ژوند د ناوې ساه ختمېده
په هغه کلي کښې د ژوند پېزوان له سره نه و

داسې به وشوه چې وريځ به ګوره ګوره شوه خو
رابـکې بـه نشـو د وصـال بـاران لـه سره نـه و

دا چې د هر مرض شفا يې په دمونو غوښته
د دې رنځـور د رغيـدو امکـان لـه سره نـه و

عمل مې دومره ښکلی نه و، خو **دانشه** دا وه
زمـا د وخـت پـه بتخـانو ايمـان لـه سره نـه و

## غــزل

غړېږي يې په سترګو کښې يو سوال وينو خوړلی
پرتــه ده او پــه زنــه يــې شـين خـال وينـو خـوړلی

منمـه تـا د فصـل زکـات ويسـتی دی خـو خانـه!
زکات دې په خمبو کښې کال په کال وينو خوړلی

زمــا پــه سر ولاړ د اوســنۍ زمــانې لمــر دی
زمــا پــه سر ولاړ د بــوډۍ ټــال وينــو خــوړلی

نامې ورباندې ليک دي نور يې هر ګوټ رژيدلی
ساتلی مې صندوق کښې يو دسمال وينو خوړلی

دانشــه! پښــتانه دې د جــمال پــه تماشــه دي
**دانشــه!** پښــتنو نــه دې جـلال وينــو خــوړلی

## غـزل

لاسونه پـه پنجـرو کښـې د طوطيـانو د لوسـت نـه وي
د ژونـــد دا ســـيپارې د مولايـــانو د لوســـت نـــه وي

ابهـام ورپکـې نـه وي خـو بـس لـږه پوهـه غـواړي
دا بعضـې بعضـې شـعر د ماشـومانو د لوسـت نـه وي

بس دومره قدرې پوهه شوم بس دا مې قدرې زده کړل
چـې زړونـه د بـې وسـه انسـانانو د لوسـت نـه وي

دا بعضـــې کتابونـــه د معنـــو څـــه بـــې معنـــا شي
دا بعضـــې کتابونـــه د مفتيـــانو د لوســـت نـــه وي

دانشـه! د نقـاد سـړي خپـل شـعر څـه عجيبـه وي
**دانشـــــه!** خـو تنقيـد د شـاعرانو د لوسـت نـه وي

## غزل

تخت په هوا کښې سیلمانه! سړو نه دی وړی
گرانه وه گرانه ډېره گرانه سړو نه دی وړی

چنار د ښېښه په تاریخ کښې چا راویستی نه دی
چنار په لاسو کښې جانانه سړو نه دی وړی

شال یې په شپه کښې د چنار په ځانگه ځنگه خپور شو
تپوس په کار دی د هوا نه سړو نه دی وړی

تاریخ په بیرته د پښتون په هکله غلی نه دی
تاریخ په بیرته تر افغانه سړو نه دی وړی

زمونږه پیغلې لا تر اوسه په بورقو کښې گرځي
منگی په ترخ کښې د پخوا نه سړو نه دی وړی

دانشه! فکر د سړو په دایره کښې بند و
**دانشه!** فکر تر اسمانه سړو نه دی وړی

## غزل

پرهرونــو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو
د دردونــو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو

مــا بــلا عمــر ليــدلي دي جانانــه
د خوبونــو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو

ســتا د زړه رضــا ښرگنــده پکښــې ښکاري
د مخونــو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو

مــا د مينــې پــه مکتــب کښــې دومره وکړه
د شــعرونو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو

د حــالاتو آيينــې ټــوټې ټــوټې شــوی
د رازونــو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو

چــې پــه مــخ بانــدې مــې پريوتــه **دانشــه!**
د داغونــو د لوســتو هــنر مــې زده کــړو

## غـزل

ارمـان بـه یـې پـه شـونډو اسـویلی پـاتې کیـدو
د ژونـد د قـافلې نـه یـو سـړی پـاتې کیـدو

نـو زه بـه خنـگـه تلمـه او د چـا لپـاره تلـم
روان ومـه زه تـلـی شـومه خـو دی پـاتې کیـده

د تلـو سره دې خیـال د زړه نـه نـه وتـه جانانـه
قسـم دی پـه ایمـان قسـم پـه خـدای پـاتې کیـدو

زما تصویر یـې راوړو ورلـه، لاس یـې پـه زړه کېښـود
ویـل دلتـه کښـې بـه دا یـو لیـونی پـاتې کیـدو

لفظونـه د معنـو محتاجـه نـه و خـو **دانشـه!**
د مینـې پـه اظهـار کښـې بـه گـونگی پـاتې کیـدو

# غــزل

د زلفـو څـوکې دې اوږدې غوښـتې تـا دې لـه غوښـتې
تـا چـې جانانـه لـوپټې غوښـتې تـا دې لـه غوښـتې

تيـل دې بانـه کـړه او بـاتې دې پـه اوبـو کښـې کېښـوې
تـا چـې د چـم مالـت ډيـوې غوښـتې تـا دې لـه غوښـتې

ځان دې سينګار کړو نو ګلان مُلان اوس ټول شرمېږي
تا چې د ګل په رنګ جامې غوښـتې تـا دې لـه غوښـتې

کـور دې پـرې جـوړ کـړو کاروبـار تـه دې پـرې وده ورکـړه
تا چې د خدای په نوم چندې غوښتې تا دې له غوښـتې

تـوره پـه تـور بانـدې دې تـور کـړل توريـالي د وطـن
تـا چـې پـرون د دوی نـامې غوښـتې تـا دې لـه غوښـتې

نـن دې پـه خپلـه غريبـۍ کښـې لـوی خـيرات کـړی و
**دانشه!** تـا چـې نـن کاسـې غوښـتې تـا دې لـه غوښـتې

# غزل

د الله فضل دی جانانه ښه دی
طبعیت مې لړ لړ د بیګا نه ښه دی

اوس راته مه وایه چې مرم درپسې
تا راته نه ویل چې ستا نه ښه دی

چې ستا په حسن زکات کیږي که نه؟
تپوس به وکړو د ملا نه ښه دی

زما که منې دا کوهی وباسئ
دغه د سوال د دې بارانه ښه دی

**دانشه** ما له زندګي راکوي
هغه سړی خو د هر چا نه ښه دې

## غزل

دا چې ستا د خولې خبره ده باچا
بیا خو ډېره معتبره ده باچا

په چا لږه زوروره ده باچا
په چا ډېره زوروره ده باچا

دا چې خلک پسې ټول د سیلمې راغلل
په دې کان کښې ملغلره ده باچا

دا یو دوه خیزونه ځان سره سمبال کړه
یوه توره بله زغره ده باچا

هغه پیره چې پیران یې مریدان دي
هغه پیره منجوره ده باچا

د دنیا ټول بختور ورته حیران دي
دومره ډېره بختوره ده باچا

پته نه لګي چا څه ورته ويلي
پته نه لګي اوتره ده باچا

هغه ونه چې زمونږه په نصيب ده
هغه ونه بې ثمره ده باچا

دا چې غوښې يې په لارو کښې خرڅيږي
دا جينۍ خپله نهره ده باچا

د دې خلقو زړه کښې ستا وېره پرته ده
ستا په زړه کښې د چا وېره ده باچا

دا کيسه ګوره د لاندې خلکو نه ده
دا کيسه ګوره د بره ده باچا

چې د شعر نه يې نفرت کوو **دانشه!**
اوس ښه لويه سخن وره ده باچا

# غـزل

دغـه غـم پـه مـا سـپوا دی دغـه غـم راسره یوسـه
خیر دی ډېر ماتـه پـه سر کـړه تـه لـږ کـم راسره یوسـه

د منبر د پاسه ناست يې او ته سپينې حورې ستايې
راشـه خلـک ژونـدون وسـوه لـږ مـرهم راسره یوسـه

راشـه دې پـولې تـه کینـه دا واښـه تـه بروتـې کـړه
دغـه پنـډ ماتـه پـه شـا کـړه دا شرشـم راسره یوسـه

زه د کلي د هوښيار نه بس پـه دې خـبره بېـل شـوم
مـا ویـل مالـه قلـم راکـه ده ویـل بـم راسره یوسـه

دا د هجر تورې شپې بـه د وصـال سپوږمۍ رڼـا کـړي
خو ته لاس په لاس کښې راکړه یـو قـدم راسره یوسـه

ای د جهـل پـه تیـارو کښـې د روښـان فکـر خاونـده
راشـه گـران **دانشـــه!** راشـه دا تـور تـم راسره یوسـه

## غزل

که غلام دی که بادار دی
دلته هر سړی شوکمار دی

ستړی ستړی انتظار دی
زړه مې پروت درته په لار دی

تا زما پوښتنه وکړه
چا ویل وګوره په دار دی

ماته مه وایه چې څه کړې
مینه کومه دا مې کار دی

شیخه هاغه انسان وینې
دا چې خپل وجود پرې بار دی

# زه به نه لېونی کېږم!

دا چــې بــې بوټـــانو ګرځــي
دا ماشــــــوم د چـــــا ازار دی

ســـاقي ګــــــرم نــه دی يـــارانو
دا زمــــــا خـــــــمار دی

د مـــذهب ســـپينو جـــامو کښــې
دا ســـړی هـــم خطـــا کـــار دی

دا چـــې ژيــــړه پاڼــــه رپـــــي
دا خــــو زيـــــری د بهــــار دی

خوبــــه! بيـــا دهقـــان زنګيــږي
جــــوړې بيــــا د اوبـــــو وار دی

تـــق پـــه زړه مـــې راغوټـــه شي
مـــا ســـاتلی ځانلـــه مـــار دی

دې دنیـــا کښـــې بـــل څـــه نشـــته
یـــو مـــې یـــار بـــل مـــې ریبـــار دی

بـــس دی بـــس دی توبـــه گـــار شـــوم
مینـــه نـــه کـــوم ښـــامار دی

چـــا ویـــل **دانـــش** شـــاعر دی
دې ویـــل څـــه مـــړې وزگـــار دی

## غـزل

مــا د ژونــدون توخــه بــايللې مــا هــنر بــايللی
مــا زړه بــايللی مــا د زړه غونــدې دلــبر بــايللی

دلته خو هر چا په څه رنګ کښې څه ناڅه بايللی
چـا ځـان بـايللی، چـا جانـان او چـا کنـډر بـايللی

هغه چې لاس مې پرې پولۍ وه ما په ويار ګټلی
هغــه پيــزوان مــې خــوږه يــاره مــازيګر بــايللی

ستاسو د کلي نه په توره شپه کښې داسې راغلم
لکــه پــردي کــلي کښــې داو وي جــوارګر بــايللی

د مغــربي تهــذيب هــوا **دانشــه!** داســې يــخ کــړو
پيغلــو شــالونه لمبــه کــړي مــونږ څــادر بــايللی

☆☆☆

# نظمونه

☆☆☆

**هسې نه چې لېونی شم! (د شاعر ږومبنی نظم)**

نن مې ډېر رنګونه راوړل
د پاریس له ښاریو نه
د جنت له باغیچو نه
د ژوندون له حادثو نه
د بېوسه تلوسو نه
او د یخو اسویلو نه

ستا تصویر مې ترېنه جوړ کړو
ستا نرۍ شونډې جانانه
ما د زړه په وینو سرې کړې
بیا مې تراړې تراړې شونډې
په دوه سرو سکروټو کیښوې
د زړه زخم مې ټکور شو

خو ناڅاپه طوفان راغی
ستا تصویر یې رانه یو وړ

د ژوندون په حادثو کښې
ستا تصویر هم رانه ورک شو
اوس زه ګرځمه لېواله
دغه غم راسره مل دی
هسې نه چې لېونی شم
او په غرونو باندې سر شم

## ما ستا لپاره جنتونه پرېښودل

په تصور کښې گله
د لگ ساعت لپاره
بیگاه جنت کښې ومه
د حورو منځ کښـې ناست وم
د شرابونو ویالې
زما په خوا بهېدې
حورو په خوله کښې راته
بوتل د پیو کېښود
غلمان ځلور طرف ته
لاس په نامه ولاړ وؤ
زما سوچونه نه وؤ
هیڅ مې فکرونه نه وؤ
په شنو باغونو کښې زه
لکه طوطي خوشحال وم
خو بیا په دغه وخت کښې

چا ظالمانو راته
په غوږ کښې داسې وویل
یار دې دوزخ ته تللی
د دې وینا سره سم
زما حالت بدل شو
څه لیونی غوندې شوم
په ګډو وډو سر شوم
ما په جنت کښې ګله
بیا داسې شور جوړ کړ
ما له مې یار راولئ
زما قرار راولئ
زما بهار راولئ
چې اوس باقي دیدن یې
د حورو مخ کښې وکړم
بیا به جنت کښې زما
عمر ډېر ښه تېرېږي
خو هائ افسوس دلبره

## زه به نه لېونی کېږم!

چې چا مې نه منله
خو زه پښتون وم ګلې
نو بغاوت مې وکړو
ستا د دیدن لپاره
ما جنتونه پرېښودل
د حورو لاسو کښې ما
ډک ډک جامونه پرېښودل
له ځانه چارچاپېره
ما شنه باغونه پرېښودل
او د غلمانو سره
مې ټول لوظونه پرېښودل
د خپل غني غفار مې
ډېر رحمتونه پرېښودل
او بیا په منډو منډو
تا له دوزخ ته راغلم
او ستا په غېږ کښې ګله
لکه ماشوم ویده شوم

## ډمه

بیگا مې ډمه ولیدله
لکه گل به ځلیدله
په ورو ورو به گډېدله
نرۍ شونډې دَ گل پاڼې
ښکلی مخ یې یو کتاب و
د شپې توره تیاره کښې
لکه شمعه بلېدله
په محفل کښې څه غټان وؤ
څه راغلي غریبان وؤ
چې غریب به ورنږدې شو
دا به ورو ورو تښتېدله
چې امیر به ورنږدې شو
دا به هم ورجُختېدله
چا شراب وڅښل نشه شول
چا د چرسو لوگي راښکل

زه هم دې محفل کښې ناست وم
له مستئ نه ناخبره
زه په دغه سوچ کښې پروت وم
ما ویل دا به د چا خور وي
چې د چا غېږ کښې ګډېږي
دا به هم د چا بچۍ وي
د حیا ټادر یې شلېږي
یا خو ډېره ده بېوسه
چې محفلو کښې ګډېږي
یا یې سر باندې ټوک نشته
ځکه ځکه نه ویرېږي
یا خو ډېره ده کم اصله
بې حیا ده نه شرمېږي

زه لا دغه سوچ کښې پروت وم
چې مې شرنګ د پانزیب واورید
چې مې پورته وکتله

## زه به نه لېونی کېږم!

سپوږمۍ ماته وه ولاړه
زه يې لاس نه را اوچت کړم
معمولي شانتې را تاو شوه
زما سترګو ته نږدې شوه
او په سترګو کښې ګويا شوه
اخري سوچ دې ښه نه دی
زه حيا لرم شرمېږم
خو مجبوره يم ګډېږم
ته له مانه څه خبر يې
چې له کوم حالت تېرېږم
دا منمه چې خدای شته دی
زه ترې هم ډېره وېرېږم
زه منم د چا غېرت يم
په دې ډېره ښه پوهېږم
خو زه هېڅ کولی نه شم
چې زه ډمه يم ګډېږم
زما ډېره بېوسي ده

ځکه هره شپه خرخېږم
خو بس تاته دومره وایم
چې محفل کښېني ګډا بس کړم
نو بیا ټوله شپه ژړېږم
دا یې وویل او موسکۍ شوه
او نرۍ اوښکې یې تویې کړې
زما هم زړه ټینګ نه شو
له سماج یې ګیله وکړه
اوښکې بیا مې مېلمنې شوې
د بڼو په سر ډېوې شوې
له محفل نه راروان شوم
او له ځان سره ګویان شوم
ما ویل دومره لوی جهان کښې
د چا دومره هم ځای نشته
د چا دومره هم ځای نشته

☆ ☆ ☆

## د قام د بیداری نعره په جار اوکه قربان...

ای نشـتـه مـې پـه لاسـو کـښـې بنـګـړي درسره ځـم
ای مـات مـې دې پـه پـښـو کـښـې شـي ازغـي درسره ځـم
قسم مـې دې پـه خـداې وي خـداې راسـتـي درسره ځـم
هـېـڅ سـوچ وربانـدې نـه کـوم بېـخـي درسره ځـم
خـو تـه هـم يـو وړوکـی غونـدې کـار وکـړه قربـان
د قـام د بیـداری نعـره پـه جـار وکـړه قربـان

☆☆☆

دا زه چـې ورتـه وایمـه بابـا ګـنـي سـتا نـه دی
دا زه چـې ورتـه وایمـه کاکـا ګـنـي سـتا نـه دی
دا زه چـې ورتـه وایمـه مامـا ګـنـي سـتا نـه دی
دا زه چـې ورتـه وایمـه لالا ګـنـي سـتا نـه دی
دا زه چـې ورتـه وایمـه ابـی ګـنـي سـتا نـه ده
دا زه چـې ورتـه وایمـه تـروری ګـنـي سـتا نـه ده
دا زه چـې وارتـه وایمـه خـوری ګـنـي سـتا نـه ده
چـې ده نـو بیـا خـو راشـه دا اقـرار وکـړه قربـان
د قـام د بیـداری نعـره پـه جـار وکـړه قربـان

**په خپلو اوښکو مې روژه ماته کړه**

روژه ماښام د روژه ماتـي وخت و
لاس مې کړل پورته چې دعا وکړمه
ما له دعا ته ځان جوړ کـړی نه و
د لاس په کرښو کښې مې ته ولیدې
ستا نرۍ شونډې رپیـدلې اشنا
د مخ کتاب دې هم رڼا غوندې وو
زه دې د سترګو په دنیا کښې ورک شوم
او سم دلاسه بیا ماضي ته لاړم
ستا مې وړې وړې خبرې یاد کـړې
هغه خپل ماشوم ماشوم نظر ته حیران
هغه د کوټې په سر مې لوبې یاد کړې
شوم هاغه ښکلي مازیګر ته حیران
هاغه اول نظر مې بیا را یاد شو
او زه بیا هاغه شان اوتر اوتر شوم
هاغه وختونه راته بـیا رایاد شو
چې په اول ځلې سوری ځیګـر شوم

زه در نږدې شومه تپوس مې وکړو
هاغه وختونه دی یادېږي کنه
چې تا له پلار به پتاسې راوړلې
نیمې به تا نیمې به ما خوړلې
هاغه وختونه دې یادېږي که نه؟
چې د سحر نه تر ماښامه پورې
ګلابه مونږه به یو ځای ګرځیدو
تا راته ووَیل ګرانه ښه مې یاد شي
خو ماشوموالی ناپوهي وي اشنا
بیا چې اشنا په تا شباب راغی
په تا کښې نوی انقلاب راغــی
په ما او تا پابندي ولګیده
ستا په خندا پابندي ولګیده
وخت زمونږ پښو کښې بــیړۍ واچولې
خو لیوني د مینې چا قید کړي
زمونږه زړونو به قرار نه مــوندو
د وخت ظالم چې یې فرار وموندو

نو بیا به پټ پټ دَ هر چا نه ګله
کله د ورځ کله د شپې دیدن وو
خو خیر د وخت د تیریدو سره سـم
د زمانې نظر په مونږ ولګیدو
بیا زمونږ لار کښې غمازان وؤ اشـنا
ځومره ناترسه رقیبان وؤ اشنا
هېڅا به بیا په مونږه زړه نه سېزلو
ځومره دا خلک ظالمان وو اشنا
خیر د پردو نه به څوک څه ګیله کړي
زمونږه خپل هم دښمنان وو اشـنا
نو بیا په مونږ پابندي ولګیده
تاته عزت د خاندان ګران وؤ
د دغه ویرې دې زه پریـښودمه
زما حالت د لیونو غوندې شو
او ستا په یاد کښې به اوتر ګـرځیدم
خو ښه ده نن مې بیا اشـنا ولیدو
زه ورنزدې شومه تپوس مې وکړ

نو بیا به پټ پټ دَ هر چا نه گله
کله د ورځ کله د شپې دیدن وو
خو خیر د وخت د تیریدو سره سـم
د زمانې نظر په مونږ ولگیدو
بیا زمونږ لار کښې غمازان وؤ اشـنا
ځومره ناترسه رقیبان وؤ اشنا
هیچا به بیا په مونږه زړه نه سېزلو
ځومره دا خلک ظالمان وو اشنا
خیر د پردو نه به ځوک څه گیله کړي
زمونږه خپل هم دښمنان وو اشـنا
نو بیا په مونږ پابندي ولگیده
تاته عزت د خاندان گران وؤ
د دغه ویرې دې زه پریـښودمه
زما حالت د لیونو غوندې شو
او ستا په یاد کښې به اوتر گـرځیدم
خو ښه ده نن مې بیا اشـنا ولیدو
زه ورنزدې شومه تپوس مې وکړ

گلابه زه درته یادېږم که نه؟
د یار حالت هم عجیبه غوندې شو
کله خندل کله ژړل یې راته
خو په اخر کښې یې بس دومره وویل
دانشه مه وینه بس نور خوبونه
دې وخت ظالم درنه زه لېرې یوړم
د دې وینا سره یې اوښکې تویې کړې
زه لا خبر هـــم له خپل ځانه نه وم
چې مې دا شونډې څه لمدې غوندې شوې
هلته آذان شو د ملا په ژبه
په خپلو اوښکو مې روژه ماته کړه

☆ ☆ ☆

## استاد جي

تاته هم استاد جي ويلي
ماته هم استاد جي ويلي
تا پر لاره کښېـ ايښودی
ماته بم استاد جې ويلي
ما پر لاره کښې ايښودی
تاته بم استاد جې ويلي
ته خبر يې پر ما گـرانه
دا زما او ستا تر ميانه
دښمني ده، دا په څه ده
تربگني ده، دا په څـه ده
دا د چا له لاسه جوړه
ته يې هم له ژونده ويستې
زه يې هم له ژونده ويستم
راشه نن دې پوهـومه
دا کيسه درته کومه
ته وړوکی، زه وړوکی

## زه به نه لېونی کېږم!

ته ناپوهه زه ناپوهـه
د ډېران په غاړه ناست و
تاته هم استاد جي ويلي
ماته هم استاد جي ويلي
تاته يې ويل دا دې دښمن دی
ماته يې ويل دا دې دښمن دی
پس له هغې ورځې گرانه
مونږه دواړه دښمنان يو
ته زما د سر قاتل يې
او زه ستا د سر قاتل يـم
ته اوس ما په کاڼو ولې
زه اوس تا په کاڼ ولم

☆ ☆ ☆

ته زما له مرگه تېر يــې
او زه ستا له مرگه تېر يــم
په نظمونو په ټپو کښــې

په غزلو په مصرو کښې
په چاربیتو، نیمکو کښې
کلیسا او گود دوارو کښې
په جومات کښې په حجرو کښې
په سکولونو، مدرسو کښې
د تاریخ په کتابچو کښې
واعظینو په خطبو کښې
د یقین په جوړېدو کښې
د گومان په غاړه ناست و
تاته هم استاد جي ویلي
ماته هم استاد جې ویلي
تاته یې ویل دا دې دښمن دی
ماته یې ویل دا دې دښمن دی
پس له هغې ورځې گرانه
مونږه دواړه دښمنان یو
ته زما د سر قاتل یې
او زه ستا د سر قاتل یم

ته اوس ما په کاڼو ولې
او زه تا په کاڼو ولم

☆☆☆

ته خبر يې پر ما ګرانه
ستا نه زار شمه جانانه
دا يو دوه پهلـوانان دي
ډېر بې رحمه انسانان دي
يو ستا مشر، بل زمـا دی
هغه دوه ډزې چې وشوې
يو پر تا دی، بل َپر ما دی
ما به ستا له لاسه وژنـي
تا زما له لاسه وژنـي
او زما او ستا په مرګ کښې
هم ددغه خلکـو ژوند دی

☆☆☆

## يتيم

يتيمه ډېره موده کېږي په نظر کښې مې يې
بلا مودې وشوې بچيه درته ګورمه زه

ستا د شلېدلو جامو ذکر مې کتاب کښې لوستو
بلا مودې وشوې شلېدلې جامې هم وينمه
چې ستا په سر باندې حالاتو بلې کړې لمبې
نظر مې سيزي خو زه دغه لمبې هم وينمه

زه ستا د پښو لاندې چپلو ته حيران يمه چې
بلا مودې وشوې زړې شوې خو بدلې نه شوې
ته په بوجۍ کښې له ډېران نه پلاستيک ټولوې
زه حق حيران يم په ما ولې لمبې بلې نه شوې؟

تا دې د مور د دوايي لپاره ځان لوګی کړ
تا دې د خور د يو بنګړي لپاره ځان لوګی کړ

تعلیم دې ونکړ جانانه بې هنره لوی شـوې
مړه لوی څه شوې خو بس لوی شوې د زړه سره لوی شوې
په شته کوټه کښې په پردی کوټه کښې ژوند تېروې
په خپل وطن کښې دې ځای نشته مهاجره لوی شوې
تا د یارانو له بنداره هډو خوند وانخیست
د ماشوموالي له نازونو ناخبره لـوی شوې
د وخت د ژرندې لاندې دل شــوې او ریزه ریزه شوې
د وخت د جبر لاندې څه په ویره ویره لوی شوې

دا ستا د دومره مایوسۍ تپوس له چا نه وکړم
ستا ددې لویې خاموشۍ تپوس له چانه وکـړم
ستا د دې دومره بدبختۍ تپوس له چانه وکـړم
ستا د دې ډېرې غریبۍ تپوس له چانه وکـړم

د وخت حاکم څه عمـر نه دی چې تپوس دې وکړي
نه دا نظام دومره ژوندی دی چې افسوس دې وکـړي

د کلي خلک له جومات نه تا په دې وباسي
چې ته خیرن یې ستا جامې بلا په ختهو سخا وي
هسې نه پاک جومات گنده کړې بل فساد جوړ کړې
ته به نو وایه ځان له څنگه بل جومات جوړ کړې
ما اورېدلي جـــوماتونه د الله کورونه

خو خدایه ستا په دې کورونو کښې اختیار د چا دی
دا ظلم څوک کوي دا دومره ظلم کار د چا دی

د کلي خلک له جومات نه گله تا وباسي
قسم په خدای د دغه ظلـــم را نه ساه وباسي

ته په پردو جامو کښې گرانه اخترونه کوې
ته په زړو جامو کښې گرانه اخترونه کوې
هغه جامې چې په خیرات کښې درته خلک راوړي
هغه جامې چې په زکات کښې درته خلک راوړي
هغه جامې چې د بل چا د اغوستلو نه وي

تعلیم دې ونکړ جانانه بې هنره لوی شـوې
مړه لوی څه شوې خو بس لوی شوې د زړه سره لوی شوې
په شته کوټه کښې په پردۍ کوټه کښې ژوند تېروې
په خپل وطن کښې دې ځای نشته مهاجره لوی شوې
تا د یارانو له بنداره هډو خوند وانخیست
د ماشوموالي له نازونو ناخبره لـوی شوې
د وخت د ژرندې لاندې دل شـــوې او ریزه ریزه شوې
د وخت د جبر لاندې څه په ویره ویره لوی شوې

دا ستا د دومره مایوسۍ تپوس له چا نه وکړم
ستا ددې لویې خاموشۍ تپوس له چانه وکـړم
ستا د دې دومره بدبختۍ تپوس له چانه وکـړم
ستا د دې ډېرې غریبۍ تپوس له چانه وکـړم

د وخت حاکم څه عمـر نه دی چې تپوس دې وکړي
نه دا نظام دومره ژوندی دی چې افسوس دې وکـړي

# زه به نه لېونی کېږم!

د کلي خلک له جـومات نه تا په دې وباسـي
چې ته خيرن يې ستا جامې بلا په ختهو سـخا وي
هسې نه پاک جومات گنده کړې بل فساد جوړ کړې
ته به نو وايه ځان له ځنگه بل جومات جوړ کړې
ما اورېدلي جـــوماتونه د الله کورونه

خو خدايه ستا په دې کورونو کښې اختيار د چا دی
دا ظلم څوک کوي دا دومره ظلم کار د چا دی

د کلي خلک له جومات نه گله تا وباسي
قسم په خدای د دغه ظلـــم را نه ساه وباسي

ته په پردو جامو کښې گرانه اخترونه کوې
ته په زړو جامو کښې گرانه اخترونه کوې
هغه جامې چې په خـيرات کښې درته خلک راوړي
هغه جامې چې په زکات کښې درته خلک راوړي
هغه جامې چې د بل چا د اغوستلو نه وي

# زه به نه لېونی کېږم!

هغه جامې چې د بل چا د قبلولو نه وي
ته په هغو جامو کښې گرانه اخترونه کوې
ته په زړو جامو کښې گرانه اخترونه کوې

ته په هغو جامو کښې ځان جوړ کړې مېلې ته لاړ شې
ته په زړو جامو کښې ځان جوړ کړې مېلې ته لاړ شې
ته په پردو جامو کښې ځان جوړ کړې مېلې ته لاړ شې

هلته یو تور شانته هلک درته څه داسې وایي
د کونډې زویه ته خبر یې دا چې تا اغوستي
دغه جامې اول زما وې مور مې تاله درکړې
د ده همزولي په خندا شي درته داسې وايي
د کونډې زویه په پردو جامو دې تن پټ کړی
ته ورته غلی شان مُسکی شې ورته داسې وایې

د خدای تقسیم دی چا له څه او چا له څه ورکوي
ما له یې تن راکړی تاله یې جامې درکړي

ته هر سحر د سرک غاړې ته ولاړ یې گورې
چې ماشومان سکول ته ځي تا ورته غریو ونیسي
ته بیا خیرنه لمن پورته کړې او مخ ته یې یوسي

ما اورېدلي دي چې مخ د خدای له نوره جوړ وي
ته په خیرنه لمن هغه اوښکې پاکې کړې چې
کومې په نور باندې روانې وي او چغې وهي
تا غریو نیولې سلگۍ ونیسي او په مخه لاړ شي
د کلي غټ ډېران ته ځان رسوې بیړه کوې
هلته چې ورسې بوجۍ خوره کړې کېنې ورته

په چغو سر شې په ژړا شې دا غوښتنې کوې
ته په وړه خوله له الله نه دا پوښتنې کوې
ربه! د پلار قاتلان نه یادوم وي دې خیر دی
هغوی ته تا نجات ورکړی زه یې هم بخښمه
له ځناورو سره نه کېږي څه نه وایمه
له زورورو سره نه کېږي څه نه وایمه

له ستم گـــرو سره نه کېږي څه نه وایمه
خدایه له زغـــرو سره نه کېږي څه نه وایمه

توده دې نه وي که توده مې په نصیب کښې نه وي
خدایه! سړه ډوډۍ خو راکړه زه له ولږې مرمه
ما اورېدلي دي د رزق وعده تا کړېده
که نه دا هسې چا په ما پورې خندا کړېده

زه دا منمه چې محنت دې ورله شرط ایښــودی
خو خدایه! زه څومره محنت کومه ته مې وینــې
زما همزولي شهزادگان دي اډو غم نه لـــــري
زه در په در یمه نهر یمه نهر گرځمه
هغوی په سره غرمه کښې ښه خواږه خوبونه کوي
زه په ډوډۍ پسې روان یمه نهر گرځمه

هغوی د ژوند له ضروریاتو ناخبره گرځي
د پلار د سیوري لاندې گـرځي بې خطره گرځي

## زه به نه لیونی کېږم!

زه چې مابنام پلاستیک خرخ کـړمه نو دومره وشـي
مور مې ناجوړه ده هغې له پرې ګولۍ واخـلم
زړه خو مې غواړي چې مې خـور له پرې والۍ واخلم
ژړا له راغلمه میرمن د غریبۍ واخلم
څه به خوندونه زه د دې سترېې ځوانۍ واخلم
بیا مې د خیتې غم را واخلـي کاسه ګۍ واخلم
ځم اجازه مې له خورکۍ او له مورکۍ واخلم
له دروازې نه چه وځمه نو سلګۍ واخلم
خدایه! له کـوم ظالم له لاس نه مې مرۍ واخلم
په چم مالت کښې وظیفه تولوم چغې وهـم
د غم مالت کښې وظیفه تولوم چغې وهم
یو څوک یې راکړي خو یو څوک راته خبرې اوکړي
هغه خبرې چــې تر اوسه یې زه اورمه خو!
نه مې منلي نه یې بل چاته کولای شمه
د هغه بر کلي ښایسته جلۍ دې نه لویېږي
دغه دې مـړه شي دا سپېره جلۍ دې نه لویېږي

ما اورېدلي دي د دغې جلۍ پلار مړ دی
په سر يې سيوری د چنار نشته چنار مړ دی
وړوکی زور يې اوس د دغې د ساتلو نه دی
د مور صحت يې اوس د لوښو د مينځلو نه دی
هسې نه دغه جنۍ وږي شي او دلته راشي
دلته ډوډۍ نشته دی هسې نه خوراک د چا شي

په سپين بدن يې څوک خاپونه د خانۍ پرېږدي
هسې نه څوک ورباندې نښې د ځوانۍ پرېږدي
دلته بلها ځناور اوسي د انسان جامه کښې
دلته اشنا ځناور اوسي د انسان جامه کښې

دانشه وخت او خلک تيز دي بلا مخکې لاړل
زه لا تر اوسه د يتيم په دغه سوال ژاړمه
چې په وړه خُوله يې له لوی الله نه داسې کاوه
خالقه خدايه! دا د کوم جرم سزا راکوې
خالقه خدايه! دا د کوم جرم سزا راکوې

## تشدد

دا چې سره وینه بهېږي
او توده وینه بهېږي
لر او بر مې په وطن کښې
پښتنه وینه بهېږي
پېښور په وینو سور شو
او تازه وینه بهېږي
گرانه اوس کابل ته مه ځه
بس راځه، وینه بهېږي
یو پښتون وزیرستان کښې
بل پښتون بلوچستان کښې
دواړه مړه شول په ارمان کښې
د وختونو په زندان کښې
په دې گرده پښتونخوا کښې
په کابل او په پکتیا کښې
ای د ورځې په رڼا کښې

ښه ښکاره وینه بهېږي
او توده وینه بهېږي
لر او بر مې په وطن کښې
پښتنه وینه بهېږي

☆☆☆

په ګناه مو خبر نه یو
چې په څه باندې مو وژني
چې په بدو کښې یې مړه کړو
که په ښه باندې مو وژني
په جرګو کښې مو را ټول کړي
په جرګو باندې مو وژني
څه نا څه به راله ګوري
څه نا څه باندې مو وژني
په اسلام باندې مئین یو
عقیده باندې مو وژني
له هندو نه یې جدا کړو

# زه به نه لېوني کېږم!

نظریه باندې مو وژني
خپل برجونه یې ګزار کړل
بهانه باندې مو وژني
یو میلمه کاله ته راغی
په میلمه باندې مو وژني
په چا ګرمه وینه ډنډ شوه
په چا مړه وینه بهېږي
او توده وینه بهېږي

دا چې سره وینه بهېږي
او توده وینه بهېږي
لر او بر وینه بهېږي
پښتنه وینه بهېږي
دغه وینه به ودرېږي
دغه وینه به وچېږي
دغه وینه به جوشېږي
دغه وینه به خوټکېږي

دغه وینه به لنګېږي
ای د سائنس اصول پرېږده
د پښتو خبرې واوره
د جذبو خبرې واوره
دغه وینه به ودرېږي
بیا به بل خوشال پیدا شي
بیا به بل مغُل په دار کړي
بیا به بل شیرشاه پیدا شي
دا به خپل دشمن مردار کړي
بیا به بل نجیب پیدا شي
دا به خنګه خوک سنګسار کړي
بیا به بل امان پیدا شي
وخت به بل غازي تیار کړي
دغه وینه دې بهېږي
دغه وینه دې بهېږي

☆ ☆ ☆

# زه به نه لېونی کېږم!

پښتنو عبث به نه ځـي
لېونو عبث به نه ځي
د دې وينــې له شوخۍ نه
د دې وينــې له مستۍ نه
د دې وينــې له سرخۍ نه
بل کاروان به پيدا کېږي
بل حيران به پيدا کېږي
د کوکنار ماتم به نه کـې
د چنار ماتم به نه کې
د دې اوښکو، اوښکو سترګــو
د خمار ماتم به نه کـې
د کـوکنار بدل به اخلي
د چنار بدل به اخلي
د دې اوښکو اوښکو سترګو
د خمار بدل به اخلي
د دې سرې وينې له جوشه
د تودې وينې له جوشه

دا په لارو کښې چې تویې شوې
هم د دې وینـــې له جوشه
شاعري به پیدا کېږي
بل غني به پیدا کېږي
پخوانی غني به نه وي
لیونی غني به نه وي
د حلوا دشمن به نه وي
د ملا دشمن به نه وي
د حلوا کیسه به نه کئ
د ملا کیسه به نه کئ
دا به نورې نغمې وایـي
بیا به سپورې نغمې وایـي
په نغمو کښې به یې شور وي
په نغمو کښې به یې زور وي
په نغمو کښې به یې اور وي
خو نغمې به د وحشت وي
او نغمې به د دهشت وي

د دې وینې له غـیرت نه
د غیرت چیغه راخـېژي
او له دې غیرتي لفظ نه
د اجمل رباب ټنګېږي
باباګان به را لړزېږي
عالمان به را پاڅېږي
د خپل قام سره درېږي
د جندول عمرا خانه
د روښان خلی جـوړېږي
د پښتون فکر لمبه شو
سره لمبه ترې نه بلېږي
شاعران به یو ځای کېږي
لیکوالان به را ټولېږي
د سایل پتری کچکول به
د اباسین غاړې ته لوېږي
پښتنو خیرات به غـواړي
د پښتو خیرات به غواړي

دا زما د علم تنده
د اظهار د پوهې پنگه
راشه ټول پښتانه رنگ کړه
د شاکر د مينې رنگه
بيرته راشه اتل جانه
هيڅ دې جوړ نکړل له جنگه
وه زياره درنه ځار شم
ولې پريوتې له شرنگه
د صادق روښانه فکره
د ايلم له غر نه دنگه
وه! شهکاره در نه ځار شم
ای د گران د در ملنگه
يه ممتاز ذار نه بنگه
يه د خپله ځانه تنگه
يه د سوات د منصور ملنگه
روغانيه غنم رنگه
وه ترابه، وه گلرنگه

تا ته وایم غني غورځنګه

☆☆☆

دا زما نارې ته اورې
دا زما نغمې ته اورې
دا زما د مینې غږ دی
دا د هاغو وینې غږ دی
دا په لارو کښې چې تویې شـــوه
په مردارو کښې چـــې تویې شوه

د دې وینو له سیلاب نه
انقلاب ته لار جوړېږي
پښتـــنو له انقلاب نه
انقلاب ته لار جوړېږي
د دې دومره لوی عذاب نه
انـقلاب ته لار جوړېږي
د الله د لوی کـتاب نه

## انقلاب ته لار جوړېږي

د وختونو احتساب له
د ظلمونو دې حساب له
د پښتون بچي نصاب له
دې قانون او دې کتاب له
یه دا وخت به بیرته لنګ شي
بل انسان به ترې پیدا شي
قهرمان به ترې پیدا شي
پهلوان به ترې پیدا شي
بل افغان به ترې پیدا شي

☆ ☆ ☆

بادشاه خان به ترې پیدا شي
خو په لاس به یې نیزه وي
تشدد به یې فلسفه وي
دا سړی به ډېر بدل وي

دا سړی به عجیبه وي
پښتنو بدل به اخلي
د پښتو بدل به اخلي
ای د سوات د خویندو میندو
د سلګو بدل به اخلي
باجوړ کښې شهیدان شو
د سرو بدل به اخلي
د کمځو تپوس به کیږي
د کمځو بدل به اخلي
د حفصه جومات د پیغلو
جینکو بدل به اخلي
د جومات تپوس به کیږي
د حجرو بدل به اخلي
په کابل باندې چې وشوې
د حملو بدل به اخلي
د وزیرو د مسیدو
د شملو بدل به اخلي

فکر مه کوئ یارانـو
دیروجو بدل به اخلي
د وطن د ټولو خپلو
پښتنو بدل به اخلـي
د قانون ګریوان به نیسي
د قارون ګریوان به نیسي
که پښتون داسې یو نه شو
د پښتون ګریوان به نیسي
بس یو ځو ورځې **دانشه!**
انتظار دې دا به وکړو

☆ ☆ ☆

## هغه دواړو جوړه وکړه

هغه دواړ جوړه وکړه
هغه دواړه سره یو شو
ځه چې دواړه جوړه وکړو
ځه چې دواړه سره یو شو
هغه ته چې پرې مېین وې
لکه زړه چې پرې مېین وم
هغه تا باندې چې گران وؤ
هغه ما باندې چې گران وؤ
هغه تاته چې جانان وؤ
هغه ماته چې جانان وؤ
هغه تا چې ویل پیر دی
هغه ما چې ویل پیر دی
هغه ته چې یې مرید وې
هغه زه چې یې مرید وم
دا لا پرېږده په ځنگل کښې
زانهو زانهو جوړه وکړه

زانه زانه سره یو شو
ځه چې دواړه جوړه وکړو
ځه چې دواړه سره یو شو

☆☆☆

تاته یاد دي پر ما گرانه!
تانه ځار شمه جانانه !
هغه بله ورځ چې دواړه
ناست وو مونږه د سیند پر غاړه
تا ویل هغه سړی ښه دی
ما ویل دغه سړی ښه دی
تا ویل هغه سړی حق دی
ما ویل دغه سړی حق دی
تا ویل هغه سړی نر دی
ما ویل دغه سړی نر دی
تا ویل هغه سړی پوه دی
ما ویل دغه سړی پوه دی

تا ویل ته په څه پوهېږې؟
ما ویل ته په څه پوهېږې؟
تا ویل ته ډېر بې وقوف یې
ما ویل ته ډېر بې وقوف یې
تا پرې ماته کنځل وکړل
ما پرې تاته کنځل وکړل
بس په دې خبره وران شو
ما او تا مشت او ګرېوان شو

تا زه په کاڼي ویشتم
ما ته په کاڼو ویشتې
ته په خپله مخه لاړې
زه پر خپله مخه لاړم
تاته یاد دې په ما ګرانه
ستانه ځار شمه جانانه
هغه کاڼو جوړه وکړه
هغې دواړه سره یو شو

څه چې دواړه جوړه وکړو
څه چې دواړه سره يو شو

☆ ☆ ☆

گوره توږ او جوړ روان دی
دوی جوړ او توږ روان دی
يو له يو سره يو کېږي
بل له بل سره يو کېږي
يو له يو نه قربانېږي
بل له بل نه قربانېږي
گوره بيا مفادات يو شو
په دنيا مفادات يو شو

هغه ټول يو ځای ته غونډ شو
چې د چا مفادات يو شو
سياسي جوړه روا ده
مذهبي جوړه روا ده
قانوني جوړه روا ده

# زه به نه لېونی کېږم!

مسلکي جوړه روا ده
بس دی جوخته غاړه راکړه
سمدستي جوړه روا ده
ګران دانشه بس صفا شوه
تیاره ختمه شوه رڼا شوه
هغه واړه کتابونه
هغه واړه نصابونه
چې زما او ستا پر ضد وو
ته یې ماته تودولې
زه یې تاته تودولم
په تاخونو کښې پراته دي
له یو بل بخښنانه غواړي
چغې چغې وهي ژاړي
پاڼو پاڼو روغه وکړه
پاڼه پاڼه سره یو شو
زه چې دواړه جوړه وکړو
زه چې دواړه سره یو شو
☆ ☆ ☆

## دا ګیم ښه کلکولیټید دی

دا ګیم ښه کلکولیټېډ دی
ښکاره جاره خبره ده
مونږ ټول ورباندې پوه یو
څوک حال وایو
ای څوک یې نه وایي
ای یو یې ورله راولي
بل یې ور په ننښه کړي
درېیم پرې ټوپک را کاږي
د ژوند سپرغۍ یې یخه کړي
یو یې جنازه وکړي
بل جنازه ښخه کړي
څوک رسمي دعا وکړي
څوک رسمي ژړا وکړي
پاتې وارثان یې
ښه شور وکړي غوغا وکړي

داسې هېڅوک نه وي چې
يو څه دعوه په چا وکړي
بس ورځې وي جو تېرې شي
کیسې د سړي هېرې شي

☆☆☆

**خو بیا هم دوزخي یمه**

کلمه وایم مسلمان یمه

منونکی د قرآن یمه

د لوی الله بنده یمه

منونکی د هغه یمه

د خاورې نه پیدا یمه

بچی زه د حوا یمه

زه څومره قیمتي یمه

خو بیا هم دوزخي یمه

☆ ☆ ☆

باران د میکائل منم

زه شان د جبرایل منم

زه رُعب د عزرایل منم

شپیلۍ د اسرافیل منم

هابیل منم قابل منم

لښکر د ابابیل منم

د رحم دې سوالي یمه
خو بیا هم دوزخی یمه

☆ ☆ ☆

آدم منم حوا منم
عیسی(ع) منم موسی(ع) منم
منم ذبیح الله(ع) منم
منم خلیل الله(ع) منم
هارون منم قارون منم
دهر دور قانون منم
په دین محمدي یمه
خو بیا هم دوزخي یمه

☆ ☆ ☆

زه دین منم قران منم
زه ستا واړه یاران منم
علی منم عمر منم
صدیق منم عثمان منم

له زړه نه اهل بيت منم
مئين په دوی بيخي يمه
خو بيا هم دوزخي يمه

☆☆☆

زه مونځ کوم زکات منم
قرآن منم مِشکات منم
زبور منم تورات منم
حکمونه دجهاد منم
ابو داؤد ابن ماجه منم
زه هره صحيفه منم
منمه صحيفې منم
زه واړه معجزې منم
ماران منم چينې منم
د وليانو سلسلې منم
د عقل نه خالي يمه
خوبيا هم دوزخي يمه

د مصر د کوڅې کیسه
د ښکلې زلیخې کیسه
یوسف لیده د شپې کیسه
په خوب کښې د هغې کیسه
په سور اور کښې دتهال کیسه
منمه د بلال کیسه
مئین په حبشي یـمه
خو بیا هم دوزخي یـمه

☆ ☆ ☆

حورې شته غلمان به وي
جنت کښې شات روان به وي
خوږې پستې اوبه به وي
شراب به وي شُوده به وي
په خیال کښې جنتي یمه
خو بیا هم دوزخي یمه

☆ ☆ ☆

دوزخ به وي ماران به وي
سور اور لړمانان به وي
تیارې به وي تور تم به وي
خولې به وي زُقم به وي
په طمع د خلاصي یمه
خو بیا هم دوزخي یمه
دانشه گناه نه کوم
هیڅ غم د دنیا کوم
ستم زه په چا نه کوم
غنمو له غلا نه کوم
د ذکر ریا نه کوم
د فکر سودا نه کوم
د مکر ژړا نه کوم
د کبر خندا نه کوم
هیڅ غم زه د چا نه کوم
بس دم په ملا نه کوم
یاران وایي ولي یمه
خو بیا هم دوزخي یـــمه

# زه به نه لیونے کیږم!

زه به نه لېونی کېږم!
چار چاپېره لیوني دي
او زما ور په کښې ژوند دی
دومره ډېره ځانځاني ده
چې د وخت دا لیوني هم
د خپل ذات په حد کښې اوسي
د خپل ځان تر حده پایي
په دې دومره لوی جهان کښې
یک تنها چې زه اوسېږم
زه به نه لېونی کېږم!

☆☆☆

زه به نه لېونی کېږم!
چې نښه ټیک ټاک مسلمان یم
او په یو، دوه کښې حیران یم
دومره ډېرې تفرقې دي

د ملایانو دا فرقې دي
هر ملا په کښې دا وايي
چې زما دا فرقه ټیک ده
زه په کوم پسې روان شم
چې په یو دوه نه پوهېږم
زه به نه لېونی کېږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لیونی کېږم!
چې د ړوند فقیر کچکول ته
داسې غلی غلی ناست یم
لکه سپی چې وي چیچړو ته
د قصاب په تېخانه کښې
چې کچکول ته روپۍ راشي
له کچکول نه راخطا شي
زه یې لاس کښې کړم راګېرې
بیا یې ژر جېب کښې خوندي کړم

کله کله گـورم شاته
خو اکثر گورم الله ته
بیا د خدای شکـر ادا کړم
وایم ښه شوه، نن خو وشوه
د روزۍ وعـده پوره شوه
خو د شپې چې کله څملم
دغه غم راسره مل شي
دا د ړوند فقیر نه غلا وه
هسې نه رانه لاس پرې کـړي
بیا به خوله څنگه وازومه
زه د ړوند فقیر کچکـول ته
زه دا سوچ کـوم یریږم
زه به نه لیونی کېـږم

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم
چې د ژوند سترې سفر کښې

د صحرا په غېږ کښې پروت یم
خُوله مې اوچه ده د لاړو
نوم نشان ورپکښې نشته
دومره تږی یم یارانو
چې دا خپله وینه هم څکم
خو مری د خُولې نه لرې
او په نور وجود کښې وینه
ماته پته ده چې نشته
د خونخوار مارغه په خوا کښې
منګوټې د اوبو پروت دې
څاڅکي څاڅکي ئې په مورګو
په مزه مزه څڅېږي
او زما تنده زیاتېږي
خو د سر په بدله دی
چې ورځمه نو مړ کېږم
نه ورتلی شم نه صبرېږم
زه به نه لېونی کېږم

☆☆☆

زه به نه لېونی کېږم!
چې واړه ګلان قتلېږي
په سکولونو مدرسو کښې
کتابونه پسې راوړي
سره په وينو په بستو کښې
د بچو غوښې ټوټې
د وړو غوښې ټوټې..!
د يو لاس وي د بل پښه وي
د هغو غوښې ټوټې
په پردي جنګ کښې تباه شو
د سړو غوښې ټوټې
لويه خدايه چې زه داسې
د پښتو غوښې ټوټې
لويه خدايه چې زه داسې
په پردي جنګ کښې قتليږم

## زه بـه نه لېونی کېـږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم
ستـا پـه لاس کښـې سور قلم دی
او زمـا تاریخ پرې لیکې
دغـه ټـول تاریـخ پـرهـر دی
ویـنې، ویـنې مـالګې، مـالګې
زه پـه خپل پـرهـر کښې پـروت یم
صرف دا زما ګناه ده
چې پـښتون یـم غیرتي یـم
او بـچی د ابدالي یـم
ننګـیالی یم، جنګـیالی یـم
توریالی یم، بریالـی یم
اوس زما دا صـفتونه
ټـول پر ما بـانـدې بد لګي
دا د پلار نیـکه نومـونه

ټول پر ما باندې بد لګي
زه په خپل صفت شرمیږم
زه به نه لېونی کېږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم!
چې له داسې یو ملا نه
د جهاد فضیلت اورم
چې بچی یې په لندن کښې
د خپل خیال جنت کښې پروت دی
زما دغه یو بچی و
لاړ شهید شو، شین طوطي شو
مبارک شه، مبارک شه
جنتي شو، جنتي شو
زما سپینه ږیره نوره
اسوېلو سپینه پولۍ کړه
دا دی نور بچي تیار دي

درنګ ساعت له روانېږي
او د ده دوکان چلېږي
د شرابو ګوښ حرام دی
خو د وینو ارزاني ده
د یو څو کسانو راج دی
د یو څو کسو خاني ده
دغه وخت د ژرندې پل دی
او زما پر مری پروت دی
زه د خوار غنم دانه یم
د اوبو په زور دلېږم
زه به نه لېونی کېږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم!
چې د وخت یو څو غټان چې
د غریب په وینو پایي
د غریب نه وینه وښښي

د غریب نه غوښې وخـوري
بیا احرام له ځان نه تاو کړي
درشي ستا ښکلې کعبــې ته
ستا د خوږ نبي روضــې ته
هلته تاو شي او راتاو شي
او په کاڼي شونډې کېږدي
بیا شیطان په کاڼو ولي
ته یې په دغه خاطر معاف کړې
دوی بیا نور هم معتبر شي
دوی بیا نور هم متهور شي
دوی بیا نور هم زورور شي
په ما زور کوي ځورېږم
زه به نه لیونی کېږم !!!

☆ ☆ ☆

زه به نه لیونی کېږم !!!
ورونـه کـیني، خویندې ورکړي

د خپل جرم پـه سزا کښــې
بیا ژوندي مړی روان کـړي
د دښمـن کره یې بیایـي
زه یې چې وینمه بوږنیږم
زه به نه لېونی کېږم؟
زه به نه لېونی کېږم؟

☆ ☆ ☆

چې تـه نـه یـې، ابۍ نه وي
بـابا نـه وي
ماما نه وي کاکا نـه وي
یاران نــه وي خپلوان نه وي
زه د چا په در کښې کینم
زه د چا درد ته خپل وویم
دا چې ورځ په ورځ ختـمیـږم
زه بـه نه لیـونـی کېږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم!
په مغزو مې دومره بوج دی
چې خپل ځان راباندې بوج دی
زه پر ځمکه باندې بوج یم
او آسمان را باندې بوج دی
تاته ډېرې مودې وشوې
تاته ډېرې مودې شمارم
چاته ډېرې مودې کېږي
چاته ډېرې مودې شمارم
د دنیا نه را بهر شوم
د ملا نه را بهر شوم
تجسس تکل له بوتلم
په تکل کښې ناکام نه شوم
حقیقت ته ور رسېږم
زه به نه لېونی کېږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم
چې د لاس او پښو نه ګیر یم
په لاسو کښې هتکړۍ دي
او په پښو کښې زولنې دي
پــه اظهـار مې پابندي ده
په ګفتار مې پا بندي ده
چې څه وایـم کافر کېږم
چې څه نه ویم، خرابېږم
دا چې ورځ په ورځ زیــږېږم
زه په ژوند پــسې کـږېږم
زه بـه نه لېونی کـږم؟

☆ ☆ ☆

زه بـه نه لېونی کېږم!
د سقراط پـه لارې تګ دی
لېپې، لپې زهـر، زهر
د هر چا لاسونه ډک دي

## زه به نه لېوني کېږم!

ما په لاسو کښې نیولي
دواړه ستا لاسونه ډک دي
تا په لاسو کښې نیولي
دا زما لاسونه ډک دي
د انسان پر وینو گرانه
د انسان لاسونه رنگ دي
د ارمان په وینو گرانه
د انسان لاسونه رنگ دي
د حیوان په وینو گرانه
د انسان لاسونه رنگ دي
او زما او ستا په وینو
د آسمان لاسونه رنگ دي
هر اتل پسې جانانه
ناروا پروپیگنډه ده
گوره ما پسې روانه
نن سبا پروپاگنډه ده
بعضې وایي دا کافر دی

بعضې وايي مسلمان دی
بعضې وايي دا ملحد دی
بعضې وايي خوږ انسان دی
د زړه سر دی او جانان دی
بعضې وايي دا يې کړي
بعضې وايي دا يې وکړه
بعضې وايي دا دروغ دي
بعضې وايي دا رښتيا دي

☆ ☆ ☆

بس خو ټول خلق لګيا دي
بيا به نور خلک پيدا شي
بيا به سپور خلک پيدا شي
بيا به سپور تورونه راوړي
بيا به نور تورونه راوړي
بيا به تور خلک پيدا شي
بيا به تور تورونه راوړي

ما به داسې رنګ کښې پېش کړي
چې بېخي به زما نه وي
بېګناه به ګنهکار یم
ما به کړې ګناه نه وي
ته هم دوی سره لګیا یې
ته هم دوی سره سلا یې
ته هم دوی سره ګویا یې
ته یې وایې زه خبرېږم
زه به نه لېونی کېږم!

☆ ☆ ☆

زه به نه لېونی کېږم!
د نامې لپاره لیکو
د جامې لپاره لیکو
د پښتو په مرۍ غلي
د شملو په مرۍ غلي
زه له تا ځینې بېزاره

ته له ما ځینې بېزاره
زه په تا باندې بد لـږم
ته په ما باندې بد لږې
که زه لږ یم او که بر یم
له خپل ځان سره په شر یم
ځکه تول پرهر، پرهر یم
در په در یم او نهر یم
د حساب نه مو وباسې
د کتاب نه مو وباسې
ای قسم په خدای ورکې مو
د نصاب نه مو وباسې
ته هم پوهـ، زه هم پوهه
ته هم غلی، زه هم غلی
ستا خپل څه مفادات دي
زما خپل څه مفادات دي
زما او ستا په شر کښې
د چا بل څه مفادات دي

## زه به نه لېوني کېږم!

ای **دانـــشه** ښـه پوهېـږم

چې یو کېږم، نه ورکېږم

په ډیر کم قیمت خرڅېږم

زه به نه لیونی کـېږم!

زه به نه لیونی کېږم!

☆ ☆ ☆

☆☆☆

# څلوریزې

☆☆☆

☆☆☆

د حورو او غلمانو دې مالت ته بلا لارې دي
په مرګ کښې جنت مه ګوره جنت ته بلا لارې دي
دا لور دې سکول ته بوځه ښه، په لور دې سبق ووایه
په دې کښې غیرت مه ګوره غیرت ته بلا لارې دي

☆☆☆

ښه جې ګناه دې وکړه ښه دې وکړل
نه جې نو بیا دې وکړه ښه دې وکړل
وږی وې غلا دې وکړه ښه دې وکړل
خار شمه له ما دې وکړه ښه دې وکړل

☆☆☆

ډېره لويه مرتبه وه خو چا وکړه چا ونه کړه
بس وړه غونډۍ سجده وه جو چا وکړه چا ونه کړه
ستا د حسن ننداره وه خو چا وکړه چا ونه کړه
ډک جامونه وه نشه وه خو چا وکړه چا ونه کړه

☆☆☆

ای ځمه زه، راځمه زه، جواب در له راوړمه زه
ای! لاړ نه شې، ای! کېنه ښه! کتاب در له راوړمه زه
ته څه وايې چې را يې وړه په زلفو کښې يې ږدمه زه ؟
ښه ټيک شوه څه! سهي شوه څه! ګلاب درله راوړمه زه

☆☆☆

ای تـه خـبر وې هغـې نـوي دام تـه غـاړه کیښـوه
ای تـه خـبر یـې هغـې بیـا ماښـام تـه غـاړه کیښـوه
خـدای خـبر ولـې یـې شرابـو تـه حـرام ویـل او
خـدای خـبر ولـې یـې د وینـو جـام تـه غـاړه کیښـوه

☆☆☆

چـې سـترگې د یـار وینمـه مـیرړي را بانـدې راشي
اوار ورتـــه رپېـــږم سمدســـتي را بانـــدې راشي
عـــلاج پـــه دوایـــانو تعویزونـــو بانـــدې نـــه شي
جانـان چـې خـوا لـه راشي خوشـحالي را بانـدې راشي

☆☆☆

ورځې کېږي چې څه کار مې شروع کړی دی او ښه دی
ستاسو کلي کښې روزګار مې شروع کړی دی او ښه دی
ورځې وشوې چې د ذات زندان کښې بند یمه یارانو
د یو ښکلي انتظار مې شروع کړی دی او ښه دی
کله کله یې پوښتنې له ورځمه جو ښه کېږي
اوس څه فکر د بیمار مې شروع کړی دی او ښه دی

☆☆☆

رانه د مینې د اظهار خبره بیا بیا وشوه
دغه د کار وه جو د کار خبره بیا بیا وشوه
په سپینه ږیره یې د اوښکو دوه ډنډونه جوړ شو
دغه سړي ته نن د یار خبره بیا بیا وشوه
زما نه مخکښې د معیار خبره چیرته کېده؟
زما نه وروسته د معیار خبره بیا بیا وشوه

☆☆☆

په خوندونو کښې خوند نشته له رنګونو نه رنګ والوت
وخت بدل شو له دې بعضې تصویرونو نه رنګ والوت
ما لا نوم اخیستے نه دی په محفل کښې ستا جانانه
ګېر چاپېره د څه خلقو له مخونو نه رنګ والوت
هن واخله دا در واخله، ما په ټرمو اوبو وینځل
ماته یاد شول خو زاړه شول، له خطونو نه رنګ والوت

☆☆☆

ستا د سترګو او خالونو لاندې اور دی
ما به سېزي د اورونو لاندې اور دی
دا چې سپینې سپینې واورې پرې پرتې دي
د دې تورو تورو غرونو لاندې اور دی
دلته ګورو سور دوزخ دی پکښې سوزو
هلته اورو د قبرونو لاندې اور دی

☆☆☆

خدای خبر ولې خو مرګي ته مې تياره نه شوه
وئيل ئې دا ګناه مې نه شوه دا مې ياره نه شوه
په ما يې دوه ګوتې ګوتلي دي د تلو نه يمه
هغې بلا جامونه وڅکل خو خماره نه شوه
ويل يې کينه وزګارېږمه راځمه درله
مودې مې تېرې په دې ځای شوې خو وزګاره نه شوه

## استاذ اباسین یوسفزي صیب ته...!

یـــارانو ورتـــه اړ یمـــه لفظونـــه مـــې پکـــار دي
لفظونـــه مـــې پکـــار دي خـــو لعلونـــه مـــې پکـــار دي
گـــوهر تـــرې راؤباســـم دریابونـــه مـــې پکـــار دي
د ټکـــو او معنـــو ســـمندرونه مـــې پکـــار دي
خالقـــه را پـــیرزو کـــړې هنرونـــه مـــې پکـــار دي
یـو ښـکلی پکښـې سـتایم ټـول رنگونـه مـې پکـار دي
دا ښـکلی بلهـا خـوږ دي بلهـا خـوږ لکـه گبـین دي
اســـتاذ محـــترم مـــې دي ژونـــدې وي اباســـین دي

★★★

صادق صیب ستا پـه زمکـه چې خارو خـبرې زده کړې
مـونږ هـم د خپـل اسـتاذ نـه پـه رو رو خـبرې زده کړې
څـه ډېـرو پښـتنو تـرې د پښـتو خـبرې زده کـړې
چـې ده راتـه راخـولې وې هغـو خـبرې زده کـړې
مـا خلکـو تـه د کـلي پـه کوټـو خـبرې زده کـړې
اوس شـکر دې مـونږ ټولـو دیروجـو خـبرې زده کـړې
زمـونږه د دیـر شـان دی او د دې دور حسـین دې
اســـتاذ محـــترم مـــې دی ژونـــدی وي آباســـین دې

یـــارانو د خپـــل فکـــر تـــرجمان دی او روان دی
پښـــتو یـــې پـــه سر کـــړې ده روان دی او روان دې
والله کـــه ســـتړی کېـــږي پهلـــوان دی او روان دې
مـــاران هـــم غـــاړې بـــاسي او انســـان دې او روان دې
زمـــونږه د پښـــتو دپـــاره ډال دې او ســـنگین دې
اســـتاذ محـــترم مـــې دی ژونـــدی وي آباســـین دې

★★★

پښـــتو بانـــدې مئین وي هـــر انســان خـــو داســـې نـــه
انـــداز خلقـــو راوړې پـــه ایمـــان خـــو داســـې نـــه
مـــا هـــم ژونـــد دې ســـتایلی د انســـان خـــو داســـې نـــه
ادب خلقـــو پـــاللی دې قربـــان خـــو داســـې نـــه
غـــزل یـــې بلهـــا خوږ دې هـــر یـــو نظـــم یـــې شـــیرین دې
اســـتاذ محـــترم مـــې دې ژونـــدې وي اباســـین دې

بس دغه څو شعرونه وو استاذ ته دې ډالۍ وي
شعرونه نه لفظونه وو استاذ ته دې ډالۍ وي
لفظونه نه وو زړونه وو استاذ ته دې ډالۍ وي
بس دغه څو څیزونه وو استاذ ته دې ډالۍ وي
په زړونو کښې اوسېږي د هر چا د زړه تسکین دی
استاذ محترم مې دې ژوندې وي اباسین دی

★★★

الله خو دې استاذ محترم لري دانشه!
اباد دې د پښتو دغه ټول چم لري دانشه!
چې څوک د پښتنو او پښتو غم لري دانشه!
الله دې د هغه غمونه کم لري **دانشه!**
دعا ورته کوومه په دعا زما یقین دی
استاذ محترم مې دې ژوندې وي آباسین دې

## اختتام



ښاغلی بخت زاده دانش د شیرزمان خان ملک زوی د شېرحسن خان ملک نمسی او د بدیع خان ملک کړوسی په کال ۱۹۸۰ء کې د جنورۍ د میاشتې په لومړۍ نېټه په براول باندۍ بر دیر کې د فطرت په غېږه کې زېږېدلی دی. په انګریزي ادب کې د ایم- فیل سند لري. د بر دیر شرینګل په شهید بې نظیر بهټو پوهنتون کې د انګرېزي ادبیاتو ښودونکی او د سټوډنټس سوسائیټیز ډائریکټر دی. د دې سره سره دانش چلډرن اکېډمي واکمن او د خېبر ګروپ آف سکولز سر مشر دی.

د سوشل مېډیا په دې زیرک دور کې ښاغلی دانش د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خپلو لکونو مئینانو زړونو ته رسېدلی دی. خلکو خوښ کړی دی، منلی دی او قدرولی یې دی. ددغې لویه وجه داده چې دده قلم د ولس د کړَمو، ستونزو او کشالو په زړه پورې روماني رنګ کې ترجماني کړې ده. د غرځني دانش د ژبې سادګۍ، خوږوالي او سوچه والي، د محاورې او روزمرې چورت د وضاحت په ډګر دده شاعري نادره کړې ده. د لهجې شوخۍ، بې ساختګۍ او د بیان کوټلي سپېځلي انداز او رنګ یې بلاغت ته وده ورکړې ده، ځکه ښاغلی بخت زاده دانش د پښتو د نوي کهول په شاعرانو کې اثېرندلی، پېژندلی او وتلی شاعر یادېږي. دنیا دده شعر ته حیرانه ده او زه دده د شاعرۍ سره سره حافظې او یاداشتونو ته هم حیران یم. الله پاک دې یې نور هم برکتي کړي. آمین

**اباسین یوسفزی**
**چئیرمین رحمان بابا چئیر پښتو څانګه**
**اسلامیه کالج پوهنتون، پېښور**
**نېټه ۲۸/اکتوبر ۲۰۱۸ء**


Design by: Iqbal Mohsin

میهن خپرندویه ټولنه
جلال آباد: اسحاقزي مارکېټ لاندې پوړ ، لومړی دوکان
0321-9895621 | 03005981425 | 0788529194 | 0773535420